ورځپاڼه
هېواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
پنجشنبه د محرم الحرام ۲۱ مه ۱۴۴۷ ق کال، د چنګاښ ۲٦ مه ۱٤۰٤ ل کال، د جولای ۱۷ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۹۳ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۵٦ مه، اتمه دوره

اداره ملی امتحانات: در سال گذشته ۷۰ امتحان جمعی اخذ شده است

برنامه تشریح دستاوردهای یک ساله ادارات امارتی طی کنفرانس مطبوعاتی در مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت با حضور داکتر ملا عبدالواسع خادم رئیس عمومی دفتر مقام عالی ریاست الوزراء و اشتراک قاری عبدالستار سعید معاون ارتباط عامه و ستراتیژیک ریاست عمومی دفتر مقام ریاست لوزراء، مولوی نعیم الحق حقانی هراتی رئیس مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، ملا حمدالله فطرت معاون سخنگوی امارت اسلامی، رهبری اداره ملی امتحانات، سایر مسئولین مربوطه و نماینده گان رسانه ها آغاز گردید. در افتتاح این برنامه ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر ریاست الوزراء گفت: چنانچه در جریان هستید درسالهای گذشته فساد اداری به اوج خود رسیده بود، اما با حاکمیت دوباره امارت اسلامی افغانستان گلیم تمام فساد اخلاقی و اداری از جامعه و حکومت جمع شده و بجای آن اصلاحات و شفافیت جایگزین شد. وی ضمن اشاره به جمع آوری عواید و پیشرفت کار پروژه های عام المنفعه در سراسر کشور افزود که جمع آوری، درمان و آموزش میلیونها معتاد مواد مخدر، برقراری امنیت سراسری، تعاملات سیاسی، اقتصادی وخصوصاً به رسمیت شناختن امارت اسلامی ... ص۷

مسئولین: د بېرته راستنو شویو له مهارتونو دې د هېواد په ودانولو کې کار واخیستل شي

په هغې ناسته کې چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ، د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګولو او د کار او ټولنیزو چارو وزارتونو ګډون کړی و، د راستنو شویو لپاره د کار موندنې پر چټکتیا، د هغوی د مهارتونو د کارولو او د یو شمېر نورو اړوندو مسایلو په اړه خبرې او پرېکړې وشوې. د ناستې په پیل کې د کار او ټولنیزو چارو وزیر ملا عبدالمنان عمري د هېواد په پولو کې د راستنو شویو کسانو د مهارتونو او زده کړو د کچې ثبت شوي معلومات له برخوالو سره شریک کړل او ویې ویل، چې یو شمېر راستانه شوي کسان ادارو ته د دندو په موخه معرفي شوي دي.نوموړي زیاته کړه، چې راستانه شوي هېوادوال د کرنې، مالدارۍ، صنعت، سوداګرۍ او همدارنګه په اداري برخو کې د پام وړ مهارتونه او ځینې په دیني او عصري علومو کې د ماسترۍ تر کچې زده کړې لري. همداراز د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر وویل، چې په جبري ډول د لوړ شمېر کډوالو راتګ د هېواد پر اقتصادي او ټولنیزو حالاتو اغېز کړي او زیاته یې کړه ... ۷مخ

روسیه:

د شانګهای سازمان غړي هېوادونه له اسلامي امارت سره د اړیکو د پراختیا په لټه کې دي

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف د شانګهای سازمان له غونډې وروسته یوې خبري ناستې ته ویلي: د یاد سازمان نږدې ټول غړي له اسلامي امارت سره د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا غوښتونکي دي. سرګي لاوروف ویلي: د شانګهای د همکاریو سازمان غړي هېوادونه د افغانستان د بیارغونې، ملاتړ، تلپاتې ودې او د خپلواک، بې پرې او سوله‌ییز هېواد په توګه ګډ لیدلوری لري. نوموړي له نشه یي توکو پر پاک افغانستان ټینګار کړی. د یادونې وړ ده، چې د شانګهای د همکاریو سازمان د غړو هېوادونو د بهرنیو د راتلونکې غونډې لپاره د چمتووالي لپاره وه، چې

چارو وزیرانو غونډه ورمه ورځ پای ته ورسېده. دغه ناسته د یاد سازمان د مشرانو ټاکل شوې د اګست میاشتې په وروستیو کې په چین کې ترسره شي.

قرغزستان:

د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسیمت پېژندل منطقي اقدام دی

د قرغزستان د ملي امنیت شورا رئیس د روسیې له لوري د اسلامي امارت د په رسمیت پېژندلو ملاتړ کړی او دا یې یو منطقي اقدام بللی. نوموړي د قرغزستان یوې رسنۍ سره مرکه کې ویلي: د اسلامي امارت په رسمیت پېژندل سیمه کې د امنیت له ټینګښت او د افغانستان له کورنۍ اوضاع سره مرسته کوي. بکت بیک بک بولوتوف د ټولیز امنیت سازمان د غړو هېوادونو وروستۍ ناستې ته په اشارې ویلي: یاده غونډه کې هېوادونو له افغانستان سره په مرستې ټینګار کړی او له نړیوالې ټولنې یې غوښتي، چې افغانانو سره بشري مرستې ډېرې کړي. بولوتوف زیاته کړې: هر هېواد به د خپلو ملي ګټو په اساس د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو په اړه پرېکړه وکړي.

رئیس‌جمهور قزاقستان دستور تعامل مؤثر با امارت اسلامی را صادر کرد

قاسم جومارت توکایف رئیس‌جمهور قزاقستان به نماینده ویژه این کشور در امور افغانستان، دستور داد که روند تعامل مؤثر با مقام‌های امارت اسلامی، به ویژه در عرصه‌های تجاری، اقتصادی و انسان‌دوستانه را تسهیل کند. رسانه‌های قزاقستان، دیروز گزارش دادند که توکایف افزوده که کشورش قصد دارد ابتکارهای بیشتری را در حوزه‌های انسان‌دوستانه و آموزشی برای کمک به تأمین ثبات و امنیت در افغانستان روی دست گیرد.اخیراً وزیر خارجه قزاقستان به کابل سفر کرده و با مقام‌های امارت اسلامی در باره موضوعات دوجانبه در بخش‌های مختلف گفتگوهایی داشت.



جوزجان کې یو مارکېټ جوړ شو

د جوزجان د مرکز شبرغان ښار د افغان ترک د ماشومانو روغتون په انګړ کې د خه باندې ۱۶ میلیونو افغانیو په لګښت یو مارکېټ جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دغه مارکېټ د عامې روغتیا وزارت په مالي ملاتړ د ۱۶ میلیونه ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت په درېو پوړونو کې جوړ شوی، چې ۳۶ کوټونه،جومات، رستورانټ، مېلمستون، د اوداسه ځای، د پایوازانو د اوسېدو ځای او ګڼ نور اړین ملحقات لري. د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره په جوزجان ولایت کې ګڼ شمېر پروژې پلې شوي او پر مټ یې زرګونو کسانو ته اسانتیاوې برابرې شوې دي. باختر

هلمند کې ټرافیکي پېښې ۱۵تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د هلمند په واشېر ولسوالۍ کې د کابل-هرات پر لویه لاره د ټرافیکي پېښې له امله ۱۱ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی او څلور نور ټپیان دي. پېښه ورمه ورځ د واشېر ولسوالۍ اړوند کاریز سیمه کې د دوو مسافر وړونکو موټرو ترمنځ د ټکر له کبله رامنځته شوې ده. د هلمند د امنیې قوماندانۍ ویاند عزت‌الله حقاني وایي، چې پېښه د موټرچلوونکو د بې‌احتیاطۍ او د ټرافیکي اصولو د نه‌مراعاتولو له امله رامنځته شوې.نوموړي وویل: «په یاده پېښه کې له بده‌مرغه ۱۱ تنه هېوادوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی ... ۷مخ

ګڼو ولایتونو کې د پولیو ضد واکسین کمپاین پیلېږي

افغانستان کې «له پولیو خلاص بنسټ» وایي: رتلونکې اوونۍ د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ماشومانو د ګوزڼ (فلج) پولیو ضد واکسین کمپاین پیلوي. یادې اداري پرون پر خپله ایکس‌پاڼه لیکلي، چې دغه

کمپاین به راتلونکې دوشنبه د چنګاښ په ۳۰مه پیل شي. د یادې اداري له‌خوا د پولیو ضد واکسین پیلېدونکي پړاو کې به له ۵ کلونو کم عمره زرګونو ماشومانو ته واکسین ورکړل شي، خو دغه بنسټ د یادو ماشومانو د کره شمېر په اړه معلومات نه‌دي ورکړي. افغانستان او پاکستان نړۍ کې دوه هغه هېوادونه دي چې لاهم د ماشومانو د ګوزڼ (پولیو) ناروغي په بشپړه توګه په‌کې له‌منځه نه‌ده تللې. افغانستان کې د پولیو لومړۍ مثبته پېښه د ۱۴۰۳ ل کال د کب په ۳یمه نېټه» په بادغیس کې ثبت شوه او له هغې وروسته د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د پولیو مثبتې پېښې ثبت شوې دي.

د احصایې او معلوماتو ملي اداره:

د شهروندانو سیستم بېرته فعال شو

د احصایې او معلوماتو ملي ادارې، د هېواد دننه او بهر مېشتو افغانانو د هویت د چټک او اسانه تثبیت په موخه د شهروندانو سیستم بېرته فعال کړ.یاد سیستم، چې د سکن فایل ترڅنګ د هویت د تثبیت د ملي سېستم برخه ده، د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د لوی رئیس عبدالقاهر حاجي ادریس، د هویت د تثبیت او د ارشیف د تنظیم رئیس مولوي نصیراحمد مدني او یو شمېر نورو مسئولینو په شتون کې پرانیستل شو. د احصایې او معلوماتو ملي اداره وایي، چې دغه سیستم د افغانانو د هویت د تثبیت په بهیر کې د پام وړ اسانتیا او چټکتیا رامنځته کوي او په لنډ وخت کې د زیاتو مراجعینو د چارو د ترسره کولو زمینه برابروي. د یادونې وړ ده، چې دا سیستم د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په همکارۍ او د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست په همغږۍ د هویت د تثبیت او د ارشیف د تنظیم ریاست تر چتر لاندې بېرته فعال شوی دی.

فراه ښاروالۍ ۲۵ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

فراه ښاروالۍ د ۱۴۰۴ لمریز کال په لومړۍ رُبع کې له ثابتو او غیر ثابتو سرچینو څخه ۲۵ میلیونه ۴۹۷ زره ۹۷۶ افغانۍ عواید راټول کړي دي. د لاسته راوړنو او ترسره شویو کړنو د حساب ورکولو په جوړ شوي پروګرام کې د فراه د تخنیکي او مسلکي چارو آمر انجنیر شاه محمود جلالي وویل، چې راټول شوي عواید د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۸ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښیي. د نوموړي په وینا، د یادو عوایدو د راټولولو لړۍ د روښتیا له اصولو سره سم ... ۷مخ

غلام خان بندر د بار وړونکو موټرو پر مخ پرانیستل شو

د سرحدي پولیسو ویاند عابدالله عقاب فاروقي وایي، چې د خوست ولایت غلام خان بندر، چې د بار وړونکو موټرو پر مخ تړل شوی و، پرون رسماً د ۱۵ ورځو لپاره پرانیستل شو. مسئولین وایي: د بندر لنډمهاله

خلاصون به د سوداګرو او لېږدوونکو تر منځ د توکو راکړې ورکړې ته زمینه برابره کړي او د مالونو د خرابوالي مخه به هم ونیول شي. دا په داسې مهال ده، چې د خوست یاد بندر شاوخوا دوه اوونۍ د پاکستان د حکومت له لوري له کوم دلیل پرته تړل شوی و.

سرلیکنه

د اقتصادي خپلواکۍ په لور د افغانستان پیاوړې حرکت

افغانستان، چې له طبیعي زېرمو، ستراتېژیک موقعیت او با استعداده نسل سره د یوه روښانه اقتصادي راتلونکي ظرفیت لري، اوس د ثبات، رغونې او پرمختګ پر نوې مرحله ګامونه اخلي. له نېکه‌مرغه، د اسلامي امارت په رهبرۍ هېواد د زېربنایي پروژو، ټرانزیټي پرمختګونو او اقتصادي خپلواکۍ په لور د پیاوړي حرکت شاهد دی.
په همدې لړ کې د وسپنې پټلۍ له لارې د توکو واردات او صادرات، نه یوازې د هېواد د اقتصادي فعالېدو نښه ده، بلکې دا بهیر د ملي عوایدو د لوړولو، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د سیمه‌ییز اتصال د پراخېدو لپاره هم بنسټیز ارزښت لري. اوس افغانستان د وارداتو او صادراتو د یو خوندي، چټک، ارزانه او عصري مسیر پر لور روان شوی، چې د خلکو باور، د پانګوالو امید او د ملت د ځان‌بسیاینې هیلې ورسره تړلې دي.
د افغانستان د اسلامي امارت د ټولګټو چارو وزارت له لوري تازه خپاره شوي معلومات ښيي، چې یوازې د چنګاښ میاشتې له ۱۳مې تر ۱۹مې نېټې پورې د وسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۷۷ زره متریک ټنه توکي انتقال شوي، چې دا د هېواد د اقتصادي خوځښت او د ټرانزیټي ظرفیت د پراخېدو ښکاره نښه ده.
د دې شمېرو د تحلیل پر بنسټ روښانه ده، چې افغانستان ورځ تر بلې له انزوا څخه د سیمه‌ییز اقتصاد د محور پر لور روان دی. هرڅومره چې د رېل پټلۍ له لارې د صادراتو او وارداتو حجم لوړېږي، په هماغې کچه د هېواد د اقتصاد نبض هم چټکېږي، فرصتونه زیاتېږي او ملي عواید لوړېږي.
د افغانستان جغرافیایي موقعیت دا فرصت برابر کړی، چې د منځنۍ آسیا، جنوبي آسیا او ختیځې آسیا ترمنځ د تګ راتګ دروازه وي. که دا موقعیت په پوره توګه وکارول شي، افغانستان کولی شي د رېل پټلۍ له لارې ټرانزیټي عواید زیات او خپل صادرات پراخ کړي، د تولید په برخه کې فعال شي او بهرنیو بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي.
راپورونه ښيي چې د افغانستان صادرات پراخېدو ته چمتو دي. وچه مېوه، د بېلابېلو مېوو جوسونه، معدني مواد، لاسي صنایع او نور محلي تولیدات کولی شي د افغانستان صادراتي نوملړ غني کړي. د وسپنې پټلۍ له لارې واردات او صادرات یوازې د سوداګرۍ ګټه نه لري؛ بلکې دا یوه اوږدمهاله اقتصادي پانګونه ده. لکه څنګه چې د ټولګټو چارو وزارت اشاره کړې، هر څومره چې دا حجم زیاتېږي، په هماغې کچه کاري فرصتونه رامنځته کېږي. د ټولګټو چارو وزارت ژمن دی چې د وسپنې پټلۍ له لارې د انتقالاتو د پراخېدو لپاره مناسب شرایط برابر کړي. دا ژمنتیا د سوداګرو د هڅونې لپاره یو مهم پیغام دی. دغه وزارت هڅه کوي، چې د وسپنې پټلۍ شبکې ته وده ورکړي، د بندرونو ترمنځ ارتباط پیاوړی کړي او د بار د انتقال بهیر چټک، شفاف او معیاري کړي. د ټولګټو چارو وزارت له خوا د وسپنې پټلۍ له لارې د ۷۷ زره ټنه موادو انتقال یوازې یو شمېر نه دی؛ بلکې دا د یو متحرک اقتصاد زېری دی، چې د افغان ملت لپاره نوې هیلې زېږوي.
مطالعات دا څرګندوي چې د وسپنې پټلۍ د پرمختګ دوام، نه یوازې سوداګر او پانګوال هڅوي، بلکې د عامو وګړو د ژوند کیفیت هم لوړوي. دا بهیر باید لا پراخ، د نورو بندرونو لپاره دې هم د رېل پټلۍ زمینه برابره او د سیمې له هېوادونو سره د لا زیاتې همکارۍ لپاره دې ستراتېژیک پلانونه جوړ شي.
راځئ چې له دې فرصتونو سمه ګټه واخلو، د ملي عوایدو سرچینې پراخې کړو، کارګر ځواک فعال کړو او افغانستان د رېل پټلۍ له لارې د سیمه‌ییز ټرانزیټ او سوداګرۍ یوه ستره کړۍ وګرځوو. دا یوازینۍ لاره ده، چې موږ د اقتصادي استقلال، پراخې سوداګرۍ او عزتمندې راتلونکې پر لور بیایي.

امت ولې د خپلو حقیقي علماوو پر ځای وارداتي څېرو ته غوږ نیسي؟

محمد قاسم عزام

دا یوه ژوره او بنیادي پوښتنه ده، چې د امت د فکري مسیر، د دیني رهبریت او د اجتماعي شعور له انحراف سره نېغ تړاو لري. اسلامي امت د خپلې تاریخي حافظې په اوږدو کې داسې علماء روزلي، چې د قرآن، سنتو او د اسلامي تمدن د اصیل جریان رښتیني وارثان وو. دا علماء یوازې د متونو ناقلان نه وو، بلکې د شعور بیداروونکي، د امت د فکري حرکت مخکښان او د شرعي اصولو ژوندي تطبیق کوونکي ګڼل کېدل. د دوی علم، تقوی، اخلاص او جرئت امت ته فکري رهبري، معنوي سا او اخلاقي بصیرت ورکاوه. دا علماء د دین د بیان، د ژوند د سمون او د ظلم پر وړاندې د ولاړ درېځ استازي وو. هغوی د واکمنو له ستم څخه وېره نه لرله او د امت له درده بې‌پروا نه وو، خو د وخت په تېرېدو، د دې ډول علماوو نفوذ کم شو. یا په فزیکي ډول له منځه یووړل شول، یا یې ټولنیز اثر تر سیوري لاندې راغی، یا هم شرایطو منزوي کړل. پر ځای یې داسې څېرې مطرح شوې چې د دین له ظاهري ادبیاتو سره بلد دي، خو له فقهي، اصولو او د شریعت له روح سره ناآشنا دي. دا کسان د علم، تقوی او مسئولیت له معیارونو څخه نه، بلکې د میډیا، شهرت، مالي تمویل او د نړیوالو ادارو له روزنیز چوکاټه راپورته شوي. دوی د دین خبرې کوي، خو د دین د جوهر پر ضد درېځ لري. د امت د وحدت نوم اخلي، خو د تفرقې وسایل تقویه کوي. د شریعت کلمات کاروي، خو د سیکولر مفاهیمو ژباړه کوي.

داسې څېرې د فکري استعمار د تداوم یوه نوې بڼه ده. دوی ته دین یوازې د بیان وسیله ده، نه د وفادارۍ محور. دا مصنوعي "علمي" څېرې نه د امت د درد ژور درک لري، نه له اسلامي اصولو سره ژور التزام او نه د خپلې وظیفې د عظمت احساس. خو بیا هم دوی ډېر مطرح شول. دا مطرح‌والی نه د علم له امله و، نه د تقوی، بلکې د تبلیغاتي ماشینونو، رسنیزو کمپاینونو او سیاسي اهدافو له امله و.

همدلته پوښتنه پیدا کېږي، چې ولې داسې کسان دومره مشهور شول او اصلي علماء له صحنې څنډې ته شول؟ دا هغه ځای دی چې د امت فکري انحراف، د معیارونو سقوط، او د حق له شناخته غفلت ښکاره کېږي. دا حالت نه یوازې د علماوو بې‌اعتباري نه ده، بلکې د امت د شعور او ایماني هویت له بحران سره تړلې خبره ده.

امت ولې دې ته غاړه کېښوده؟ ولې یې اصلي، راسخ او مخلص علماء هېر کړل او مصنوعي څېرو ته یې غوږ نیول پیل کړل؟ دا پوښتنه د امت د معاصر بحران بنسټ څرګندوي، چې څو اساسي علتونه لري. له ټولو مهم یې د فکري ضعف او د علمي معیارونو سقوط دی. کله چې امت له علم، تفکر او بصیرت څخه لرې شو او د علم واقعي محتوا یې له لاسه ورکړه، نو د عالم پېژندلو تله یې هم منحرفه شوه. نور یې د علم ارزونه د تقوا، ژور فهم او شرعي بصیرت پر ځای د ښکلې بڼې، فصیحې لهجې، جذابو ویناوو او نندارچي برنامو پر بنسټ پیل کړه. دا بدلون یوازې یو ساده تمایل نه، بلکې یو ژور فکري، تمدني او معرفتي بحران و، چې د علم له رسالته د امت بې‌برخېتوب څرګندوي او دا وضعیت هغه مهال رامنځته شو، چې د اصلي علماوو د خاموشۍ حکمت د شورماشور، تشو کلیمو او مصنوعي فصاحت تر سیوري لاندې پاتې شو؛ کله چې علم د خپل ماهیت ـ یعني د حقیقت د درک، تقوا، تدبر او ژور فهم ـ له ارزښت څخه جلا شو، نو د "عالم" د پېژندلو معیارونه هم منحرف شول. د امت د اکثرو وګړو لپاره د عالم پېژندنه نور د بصیرت، ورع، او تقوا له لارې نه کېده، بلکې د ظاهري اداءو، فصیحې لهجې، ښایسته جامو او نندارچي برنامو پر اساس صورت نیوه.

د اسلامي تاریخ درانه علماء لکه امام شافعي، امام مالک، امام احمد بن حنبل رحمهم الله، د علمي سکوت، ورع او د "لا أدري" (زه نه پوهېږم) د وینا له لارې امت ته دا ور زده کړل چې علم دروند مسئولیت دی، نه فقط د ځان ښودنه او نه سیاسي یا ټولنیز شهرت. خو د معاصر امت په رواني تمایلاتو کې د علم دا اصلي تعریف ضعیف شو او پر ځای یې د بازارموندنې، جذابیت او فني وړاندې کولو مهارتونو ته ارزښت ورکړ شو.

د بېلګې په توګه، یو څوک که د رسنیو له لارې ښې خبرې کوي، ښایسته اصطلاحات کاروي، یا د بیان قوي طرز لري، نو ډېر خلک یې بې له دې چې د علم او تقوا کچه وازمویي تعقیبوي او ورته رجوع کوي. نتیجه یې دا شوه چې امت له حقیقي او هادي علم څخه واوښت او د تشریفاتي او ظاهري علم پر لور یې تمایل پیدا کړ.

په دې توګه، امت د علم له محتوا څخه چې تفکر، بصیرت، د نصوصو د مقاصدو درک، او تقوا ده ـ لرې شو او د جذابیتونو، ظاهري شکلیاتو او پرتمینو ویناوو اسیر شو. دا نه یوازې د علم د روح خلاف عمل و، بلکې د امت له هغو مخلصو علماوو سره هم ستره جفا وه چې له شهرت، مقام او ظاهر نه تېر، یوازې د الله جل جلاله رضا او د امت اصلاح یې هدف و.

دوهم مهم عامل د رسنیو ژورې او پراخې اغېزې دي، چې د معاصرو سیکولرو او استکباري نظامونو له ټولو پیاوړې وسله ګڼل کېږي. دغو نظامونو ډېر ژر دا درک کړه چې د اسلامي امت د بیدارۍ، ازادۍ او فکري مقاومت له ټولو قوي ستنې واقعي او رباني علماء دي؛ ځکه دوی د شریعت د بصیرت، تقوا او د امت د ژغورنې پیغام لري. له همدې امله، رسنۍ د فکري یرغل اساسي وسیلې وګرځېدې او د عامه ذهنیت د بدلون لپاره یې داسې څېرې را وپاللې او مطرح کړې، چې یا له دیني متونو او اصولو ناخبره وي، یا د دین د ژور فهم له روحي اړخ نه بې‌برخې وي. دا میډیایي څېرې، چې د فصاحت، ښایسته بڼې او روزل شویو څرګندونو له لارې وړاندې کېږي، د خلکو په ذهن کې د عالم بدیله بڼه معرفي کوي. عام وګړي، چې د دیني متونو د ژور تحلیل وړتیا نه لري، د تلویزیون، سټیج او جاذبې له لارې اغېزمنېږي او ګڼي چې څوک ښایسته خبرې کوي، هغه عالم دی. دا وضعیت د فکري استعمار یوه نوې بڼه ده، چې هدف یې د امت له اصلي علماوو فکري پرېکون او د دیني شعور کمزوري کول دي، څو د امت د قیام، بیدارۍ او خپلواک تفکر سرچینه له منځه لاړه شي.

درېیم مهم عامل د حکومتي مداخلې او د دین د سیاسي تسخیر پدیده ده، چې له امله یې ډېری حقیقي او مخلص علما یا حاشیې ته شول، یا فزیکي، فکري، او ټولنیز سانسور ته اړ شول. په ډېرو اسلامي هېوادونو کې چې سیاسي واک یې د استعماري نظامونو د خوښې، ملاتړ یا مستقیم جوړښت پر بنسټ ولاړ دی، راسخ او بصیر علما د نظام لپاره د خطر زنګ ګڼل کېږي. ځکه دوی د حق خبره کوي، د ظلم، فساد، استبداد او تبعیض پر ضد درېځ نیسي، او د شریعت د تطبیق، امت د وحدت، او د استعماري نفوذ د پرېکون غوښتنه کوي. دا ډول علما نه د واکمنو د سیاست ستاینه کوي، نه له دروغو اصلاحاتو سره ملګرتیا، او نه هم د دین د تجزیې لپاره چوکاټونه قبلوي. له همدې امله، د دوی پر وړاندې حکومتي بندیزونه وضع کېږي؛ ځینې بندیانېږي، ځینې تبعیدېږي، او ځینې رسنیو ته د ورتګ حق له لاسه ورکوي. په سعودي عربستان کې د شیخ سلمان العودة، عوض القرني، او صفی الرحمان حنفي رحمه الله غوندې علما له همدې امله یا بندي شول یا شهیدان. په مصر کې د محمد جبر الرفاعي، عمر عبد الکافي، او نورو علماوو لپاره یا د خاموشۍ فضا رامنځته شوه، یا ترې منبرونه واخیستل شول. پر ځای یې داسې کسان معرفي شول چې د واکمنو مداحان وي، د شریعت پر ځای د مصلحت په نوم د نظام تبرئه کوي، او د امت له واقعي درد، فقر، استعمار، او کلتوري تجاوز سره هېڅ حساسیت نه لري. دا وضعیت د "علماء السلاطین" هغه فاجعه رامنځته کړه چې د دین رسالت یې د دولت د مشروعیت لپاره وکاراوه، نه د امت د ژغورنې لپاره.

څلورم علت د امت د تقوی، اخلاص، او قربانۍ په ارزښتونو کې کمزوري ده چې د اسلامي تمدن بنسټونه یې زیانمن کړي. ریښتینی عالم هغه څوک دی چې له خپل نفس، غرور، او د دنیایي غوښتنو یې ځان لرې کړی وي او د الله وېرې، ورع، او اخلاص خاوند وي. لکه څنګه چې امام ابو حنیفه رحمه الله ویلي: «العلم ورع» (علم تقوا ده). خو اوسني وخت کې خلک د میډیا ښکلې بڼې، شهرت، او بهرنیو اسنادو پر بنسټ علما او مشران غوره کوي. امام غزالي رحمه الله فرمایي: «کوم علماء چې په ازمېښتونو صبر ونه کړي، هغه عالم نه دی»، یعني علم یوازې فصیحې خبرې او ښکلي څرګندونې نه دي، بلکې له ځان تېرېدنه، زغم، او اخلاص غواړي. که دا اصول له امت څخه لرې شي، نو د علم ارزښت له معنوي محتوا نه تشې بڼې، شهرت، او ظاهري ښایست ته راټیټېږي، چې دا پخپله د فکري زوال یوه ستره نښه ده

پنځم مهم عامل د علماوو خپله داخلي کمزوري ده، چې له بده مرغه، د امت او علم ترمنځ د واټن زیاتېدو کې مهم رول لري. ځینې علما د امت له واقعي حالاتو، ټولنیزو بدلونونو، فکري یرغلونو، او معاصرو اړتیاوو سره نابلده دي؛ هغوی د خپلو مدارسو محدود چوکاټونو، محدود درسي نصاب، او د فتواو په هغه محدوده او تکراري بڼه کې راګیر پاتې دي چې له معاصرو واقعي مسائلو سره اړخ نه لګوي، او د نوې زمانې پېچلتیاوې نه شي درک کولی، داسې چې نه د ژبې وسعت لري، نه د زماني فکري ژور فهم، او نه د هغو نوو ابزارو پېژندنه چې د امت ذهنیت ورباندې اغېزمن شوی. دا حالت هغه مهال رامنځته کېږي چې عالم یوازې د کتابونو حافظ پاتې شي، خو د زماني د جهاد، بصیرت، او فکري مبارزې وارث ونه اوسي.

د مثال په توګه، د علامه محمد اقبال، شیخ احمد شاکر، یا مولانا ابوالحسن علي ندوي رحمهم الله په څېر علما یوازې فقهه نه وه زده کړې، بلکې د خپل وخت د فلسفې، استعمار، غرب‌پالنې، او فکري یرغلونو پر ضد یې فکري او ادبي جهاد هم کاوه. دوی د دین پیغام د زماني په ژبه وړاندې کړ، او د امت د روح

... ۶مخ

جهان در آستانه جنگ دیگر!!!

مجددی

تصامیم رهبران و تحولات سیاسی چند سال پسین در جهان یاد خاطرات قبل از وقوع جنگ جهانی دوم را در اذهان زنده می سازد، خاطراتی که زمینه را برای وقوع یک جنگ تمام عیار نظامی در سطح جهانی مساعد ساخت و باعث کشته و زخمی شدن میلیون ها انسان گردید. البته نباید فراموش کرد آنچه از میراث این جنگ هنوز هم باعث رنجش خاطر حتی بیشتر از قتل عام کودکان، زنان و بطور کلی افراد ملکی می شود یکی از وسایل عمده آن یعنی اختراع سلاح مهلک هسته‌ای می باشد.

اما حالا چنان به نظر می رسد که تصامیم غیر معقول بعضی رهبران کشور ها به ویژه قدرت های بزرگ، وقایع و تحولات ژئوپولتیک و ژئواکونومیک در سراسر جهان، فراز و نشیب های دیپلوماتیک به ویژه میان قدرت های بزرگ یک بار دیگر مسیر را برای آغاز یک جنگ جهانی دیگر هموار می سازد. از آن جمله می توان به تصامیم ترامپ و جهت گیری هایش در مسایل بین المللی اشاره نمود؛ زیرا چنان به نظر می رسد که او با دنبال نمودن سیاست های امپریالیستی و در عین حال فاشیستی و نیز اخذ تصامیم مبتنی بر برتری نظامی و اقتصادی ایالات متحده در تلاش احیاء سیاست های افراطی شبیه زمان قبل از جنگ جهانی دوم می باشد. به گونه نمونه میتوان از تصامیم و اقدامات اخیر او در مورد جنگ میان اوکراین و روسیه، مسئله تایوان و چین و جنگ میان حماس و رژیم صهیونیست و همچنان برنامه هسته‌ای جمهوری اسلامی یاد آوری نمود. در تمام موارد مذکور ترامپ نه تنها به عنوان رئیس جمهور یکی از قدرت های بزرگ جهان، نقشی در کاهش و فروکش نمودن تنش های جهانی نداشته، بلکه به اساس خبر های منتشر شده از سوی رسانه ها با مداخله مستقیم و غیر مستقیم همچون حمله بالای تأسیسات هسته‌ای جمهوری اسلامی ایران چند هفته قبل، فروش و ارسال تسلیحات سنگین به کشور های درگیر تنش همچون تایوان، اوکراین و رژیم اشغالگر صهیونیست آنها را علیه یک دیگر تحریک نموده و به تنش ها بیشتر از پیش دامن زد. از سوی دیگر حملات نظامی تعدادی از کشور ها بالای یک دیگر، درگیری های داخلی کشور ها، سیاست های توسعه طلبانه رژیم صهیونیست اسرائیل، آمریکا و بعضی کشور های دیگر، نا توانی سازمان ملل در حل منازعات بین المللی و تأمین امنیت و جلوگیری از نقض حقوق بشر، سیاست مماشات سایر کشور های جهان در قبال طرف های درگیر و امضاء پیمان های امنیتی و خرید و فروش تسلیحات سبک و سنگین میان تعدادی از کشور های مشترک المنافع احتمالاً باعث شده تا شرایط سیاسی، اقتصادی و نظامی جهان تقریباً به شرایط قبل از وقوع جنگ جهانی دوم نزدیک و با آن قابل مقایسه باشد.

البته نباید فراموش کرد که حالا میراث مهلک جنگ جهانی دوم(سلاح هسته‌ای) نه تنها مایه رنجش خاطر مردم و حکومت هاست، بلکه حالا به عنوان یکی از عوامل و محرک های وقوع جنگ احتمالی در سطح جهان و وسیله‌ای برای تهدید جان میلیون ها و میلیارد ها انسان نیز شناخته می شود؛ زیرا در آن زمان که تازه اختراع شده بود و توسط ایالات متحده در خاک جاپان مورد استفاده قرار گرفت منجر به کشته و زخمی شدن صدها هزار تن گردید. زمانی که فقط تعداد انگشت شماری از آن موجود بود؛ اما حالا هزاران کلاهک هسته‌ای موجود و در دسترس کشور ها قرار دارد، کشور هایی که به شدت با یک دیگر در حال رقابت اند و در عین حال با توجه به موارد فوق الذکر کشور های دارنده سلاح هسته‌ای از یک سو برای گسترش زراد خانه های هسته‌ای شان تلاش می ورزند و از سوی دیگر کشور هایی که به سلاح هسته‌ای دست رسی ندارند برای دست یابی به این سلاح از هیچ تلاشی دریغ نخواهند کرد و این یعنی آماده شدن برای جنگ، تعرض، دفاع و بقا؛

بناءً نیاز است که تمام کشور های جهان بشمول قدرت های بزرگ به ویژه کشور های در حال تنش در سیاست های بین‌المللی و تصمیم گیری های شان در امور جهانی تجدید نظر نمایند و همچنان سازمان های بزرگ ذیربط مسئولیت شان را در قبال تامین صلح، کاهش تنش ها و استفاده صلح آمیز از یورانیم غنی شده به وجه احسن به انجام رسانند. در غیر این صورت جهان را به معنای واقعی کلمه به سوی یک فاجعه تمام عیار سوق می دهند. فاجعه‌ای که جبرانش غیر ممکن به نظر می رسد.

مهاجرت های کاریابی را با سرمایه گذاری در داخل کشور پایان دهید

احمد

مردم افغانستان همواره به جرم بیگانه ستیزی و ایستادگی در مقابل متجاوزان، متحمل خسارات جانی و مالی مضاعفی گردیده که این ویژگی کشور عزیز ما را در ردیف کشورهای عقب مانده قرار داده است.
هرچند مردم افغانستان در دفاع از ارزش های ملی و اسلامی، همچنان حراست از تمامیت ارضی و استقلال سیاسی، الگو برای کشور های جهان بوده و مبارزات آزادی خواهی اش، سبب شده تا در نقشه سیاسی و سیاست منطقه و جهانی نیز تغییراتی رونما گردد که بدون شک این تغییر و دگرگونی، همچنان آزادی ملت ها از زیر سلطه، سلطه طلبان، پیوند عمیقی به تحولات سیاسی ـ نظامی و ایستادگی مردم افغانستان در مقابل متجاوزان، داشته و دارد، اما حالا که تهدیدات منطقه ای و حضور قدرت های خون آشام در افغانستان، به وسیله مردم مجاهد و آزاده این کشور به پایان رسیده و افغانستان و سرنوشت این کشور نیز به افغانها، تعلق گرفته، مسلماً کار وتلاش های زیادی بخاطر خود کفایی، ایجاد شغل، رشد و توسعه اقتصادی و.. نیز در حال آبستن است. پس نظر به این تلاش ها، آن روز نیز دور نخواهد بود که افغانستان امروزی به کشور صادر کننده کالا ها، محصولات و پیداوار زراعتی، صنایع دستی و... تبدیل خواهد شد. که این اقدامات سنجیده شده، تعیین اهداف بلند مدت اقتصادی، ثبات و امنیت سراسری افغانستان، باعث نگرانی شماری از کشور های، همسایه و منطقه شده و در تلاش اند تا از هر راه ممکن مانع رشد و توسعه اقتصادی و ثبات سیاسی این کشور شوند، زیرا افغانستان در مدت این همه سال‌های گذشته، نه تنها به

میدان رقابت کشور های مغرض در قضایای این کشور، تبدیل گردیده بود، بلکه بازار مصرفی کشور های منطقه نیز به شمار می رفت.
اخراج اجباری مهاجران افغان از کشور های همسایه، واکنش هایی را در سطح منطقه وجهان به همراه داشته است، اما این کشور ها، اسرائیل گونه از پهلوی این روند سطحی گذشته و اندک توجهی به اخراج اجباری افغانها آن هم در شرایط کنونی که گرمای بی سابقه، کشور های منطقه و افغانستان را تهدید می کند، نکرده اند. درست است که این کشور ها در این همه سال‌های پسین، مردم افغانستان را سرپناه دادند، اما این موضوع را نباید از یاد برد که افغانها هیچگاهی بار دوش این کشور ها نبود اند.
سیروس تالاری رئیسه انجمن سرمایه‌گذاری مشترک ایرانی خارجی (IFJIA) به تازگی گفت: براساس آخرین داده هایی که در انجمن سرمایه‌گذاری مشترک ایرانی و خارجی ارائه شده است نشان می دهد که بشترین تقاضای خارجی برای سرمایه‌گذاری در ایران از سوی ایرانیان صورت می گیرد که در خارج از ایران اقامت دارند واین افراد با سرمایه ای بین ۱۰ تا ۳۰ میلیون دالر در ایران سرمایه‌گذاری می کنند که بعد از ایرانیان، افغانها اند که از ۲۰۰ هزار دالر تا حد اکثر ۱۵ میلیون دالر در ایران سرمایه‌گذاری کرده اند. بدین ترتیب افغانها دومین متقاضیان سرمایه‌گذاری در ایران به شمار می روند و ناگفته نباید گذاشت که همزمان ما با افزایش میزان سرمایه‌گذاری افغانها در ایران، افغانستان به یکی از بازار های عمده کالا های ایرانی تبدیل شده است و این گزارش خود گواه این حقیقت است که افغانها هیچگاهی بار دوش کشور های منطقه نبوده اند.
حالا به هر دلیلی که است ،کشور های همسایه به ویژه ایران روند اخراج مهاجران افغان را در چنین هوای طاقت‌فرسای تابستان، شدت بخشید که این عمل به هیچ اصول و قانون برادری و همسایه گی، سازگاری ندارد.
بناءً حالا رسیدگی به این موضوع بر می گردد به ما افغانها که چگونه از این آزمون اجتماعی بدر خواهیم آمد. هرچند تلاش های مسئولان امور و شهروندان افغانستان به ویژه مردم شریف هرات و ولایت های همجوار آن، قابل تمجید است، اما ازدحام موجود در بنادر غربی کشور و شمار هموطنان اخراج شده از ایران به پیمانه ای است که باید تمام شهروندان کشور که وضعیت بهتر اقتصادی دارند، در این برهه ای از تاریخ سهم و رسالت خود را در مقابل برادران خود ادا نمایند. چنانی که شهروندان ولایت های غربی ما به موقع از برادران اخراج شده شان از ایران، پذیرایی قابل وصفی کردند و این پیام را به جهانیان به خصوص به کشور های همسایه، مخابره کردند که هرچند وضعیت اقتصادی در داخل افغانستان نظر به تحریم های وضع شده ومسدود بودن دارایی های ملی از سوی کشور های سلطه طلب، قناعت بخش نیست، اما هموطنان با احساس ما، با امکاناتی که در دسترس داشتند آن را با برادران رنجدیده خود، قسمت کردند و به کمک شان شتافتند و این را ثابت ساختند که مردم افغانستان یک پارچه، یک صدا و متعهد به منافع ملی اند ... ص۶

د کانونو پر قانوني استخراج پانګونه اقتصادي ثبات رامنځته کوي

شاه محمود درویش

افغانستان د کاني زېرمو له پلوه له شک پرته چې په سیمه کې غني هېواد بلل کېږي او ترڅنګ یې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو په سلګونو ډوله کانونه هم لري، خودا هم واقعیت دی چې د تېرو جګړو له امله دغه کانونه په غېرقانوني ډول اېستل کېدل، خو د اسلامي امارت په راتګ سره، چې اوس د کانونو د غېرقانوني کېندنې مخه نیول شوې او په قانوني ډول د کېندنې لپاره یې کورنیو شرکتونو ته سلګونه کاري جوازونه هم وېشل شوي دي.
د افغانستان د قېمتي او نیمه قیمتي ډبرو د صادراتو ټولنې د مسئولینو له قوله هم ویل شوي؛ چې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره د کانونو وېستنې او داوطلبۍ کې زیاتې آسانتیاوې رامنځته شوي او د صادراتو کچه لوړه شوې ده. همداشان یو شمېرهغه سوداګر چې د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو کاروبار کوي، دوی ته حکومت د کانونود اېستنې لپاره جوازونه ورکړي او د صادراتو په برخه کې یې ورته ګڼې آسانتیاوې هم برابرې کړې دي.
د معلوماتو له مخې، افغانستان د ۳ بیلیونو ډالرو په ارزښت کانونه لري، نو په ټوله کې رښتینی واقعیت او تحلیل دا دی که دغه کانونه په قانوني او مسلکي توګه وکیندل شي، نو میلیاردونه ډالره عواید به ترې ترلاسه شي، ځکه افغانستان د طبیعي زېرمو له پلوه واقعاً یوغني هېواد دی، نو له پاک الله «ج» راکړیو زیرمو څخه اړتیا ده، چې باید د ملي شتمنیو په توګه استفاده وشي او له غیرقانوني کیندنو او استخراج څخه یې باید په جدي توګه مخنیوی وشي، ځکه چې دا ملي شتمني ده، ټول افغان پتمن او غیرتي ولس هم په هغو کې حق لري.
البته دا واقعیت دی چې اوس مهال د اسلامي امارت بودجه په زیاته کچه د دې جوګه نه ده، چې په هراړخیزه توګه پر ټولو سترو او کوچنیو پروژو کار پیل کړي، خو دغه چارې د اسلامي امارت ترڅنګ د خصوصي پانګوالو په مرسته هم ترسره کېدای شي، نو دې کارته باید ملي پانګوال لا هم راجلب شي چې د ګڼو طبیعي زېرمو په را اېستلو، د صنعتي فابریکو په جوړولو او بیارغاونې کار پیل کړي، چې په داسې بنسټیزو پروژو کې د

کار پیل به مثبتې او ګټورې پایلې ولري، ځکه هم به بیکارو هېوادوالو ته د کار زمینه او ښه شرایط برابرشي او هم به د دغه راز طبیعي زیرمو را ایستل دهېواد د اقتصاد په وده او پرمختیا کې ښې او ګټورې اغیزې ولري، خوشرط دادی چې ټولې چارې یې باید په بشپړصداقت او روښتیا پرمخ لاړې شي، له شک پرته افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې که چېرې واقعاً په هراړخیزه توګه دهېواد ملي پانګوال په بیلا بیلو برخو کې په کې پانګونی وکړي، نو اړوندو لورو ته به هم بې ګټې نه وي، ځکه چې افغانستان ډېرښه امکانات لري، یعني د طبیعي زیرمو اوکانونو لکه، طلا، وسپنې، مسو، تیلو، ګازو او قیمتی او نیمه قیمتي ډبرو پورې یې یادونه کولی شو، دغه راز پراخې طبیعي زیرمې، پریمانه اوبه، ښه استعدادونه او ستر بشري ځواک هم لري چې باید له دغو ټولو څخه په ښه توګه ګټه واخیستل شي چې په دې برخه کې واقعاً د اسلامي امارت او ترڅنګ یې مسئول ارګانونه دنده لري چې زیاته پاملرنه وکړي ترهغو چې کورنی او بهرنی پانګوال دې ته وهڅوي چې په پراخه کچه په دې برخه کې پانګونې وکړي، خو د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو دنده اومسئولیت هم دی چې د امنیتي مصونیت ترڅنګ اړوندو پانګوالو ته باید د پانګونې په موخه په بیلا بیلو برخو کې ښې آسانتیاوې، لازم شرایط اوسهولتونه هم برابرکړي ترهغو چې دوی په ډاډه ... ۷مخ

د صنعت له ودې پرته د هېواد اقتصاد پر خپلو پښو نه شي درېدلای

عبدالرحمن

صنعت د یو هېواد د اقتصادي بنسټ ستنه ده، چې پرمختګ، ځان بسیاینې، کاري فرصتونو، عوایدو او نړیوالې سیالۍ ته د تګ بنسټیزه لاره بلل کېږي. د صنعت له ودې پرته، د هېواد اقتصاد نه شي کولای پر خپلو پښو ودرېږي، نه به د وارداتو پر ځای تولیدات ولري او نه به هم خپل وګړي د کار له لارې باعزته ژوند ته ورسوي.
له همدې امله، د افغانستان حکومت، چې د ثبات او اقتصادي ودې په برخه کې رغنده هڅې پیل کړې دي د صنعت سکتور ته ځانګړې پاملرنه کوي. دا پاملرنه نه یوازې د دولت له خوا مهمه ده، بلکې د صنعتکارانو، پانګوالو او د ټولنې د نورو قشرونو د فعال ګډون غوښتنه هم لري. په هر هېواد کې صنعتکاران د اقتصادي تحولونو محوري نقش ادا کوي. دوی نه یوازې د تولید فابریکې فعالوي، بلکې د بازار اړتیاوې هم پوره کوي، واردات راکموي او خلکو ته کار برابروي. افغانستان کې هم همدا قشر د هغه تحول پیل ګڼل کېږي، چې خلکو ته یې هیلې ورکړي، وطن ته یې عاید ور زیات کړی او د وطن د ثبات لپاره یې بنسټونه جوړ کړي دي. د اسلامي امارت چارواکو، د صنعتکارانو هڅونه او ستاینه کړې ده، چې دا په خپله د دولت د ارادې ښکارندويي کوي. دا څرګندونې تشې خبرې نه دي، بلکې د یوې داسې ستراتیژۍ نښې دي چې له مخې یې هڅه کېږي، د صنعت له لارې اقتصادي ثبات را منځته شي.
یو له مهمو شرطونو څخه چې صنعت پیاوړی کولی شي، امنیت دی. اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې دا ثابته کړه، چې امنیت تأمین شوی، پانګوال کولای شي په ډاډه زړه پانګونه وکړي، فابریکې جوړې کړي، تولید زیات کړي او کاري فرصتونه رامنځته کړي. دا بې‌ساری امنیت په افغانستان کې د صنعت د ودې لپاره یو تاریخي فرصت دی. حکومتي مسئولینو تل ویلي، چې امنیت د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې او اسلامي امارت هڅه کوي، د صنعت ودې ته دوامداره پاملرنه وکړي. د افغانستان د اسلامي امارت له لوري د صنعتي پارکونو لپاره د ځمکو ځانګړې کول یو مهم اقدام دی. دا پارکونه نه یوازې د تولیداتو کچه لوړوي، بلکې د بازار موندنې، صادراتو، روزنې او د کار زمینو په برابرولو کې هم بنسټیز رول لري. دا پارکونه به د هیواد د مختلفو سیمو ترمنځ اقتصادي توازن هم رامنځته کړي، ځکه چې د مرکز او ولایتونو ترمنځ د پرمختګ واټن راکمېږي. د صنعتي پارکونو جوړښت باید داسې وي چې عصري معیارونه ولري، د برق، ترانسپورت، اوبو، سړکونو او ارتباطي خدماتو اسانتیاوې پکې برابرې وي، ترڅو پانګوال او صنعتکاران تشویق شي چې خپلې فابریکې هلته جوړې کړي. د افغان حکومت ټینګار پر دې دی چې یو پر بل تل باور ولرو، شفافیت وساتو او یو له بل سره همکاري وکړو. دغو خبرو د سالم رقابت، ملي تعهد او د اعتماد فضا رامنځته کولو بنسټ ایښي، ځکه چې د صنعت په ډګر کې یوازې پیسې او وسایل نه، بلکې باور، صداقت، ملي فکر او دوامداره ملاتړ له ټولو مهم عناصر دي. په افغانستان کې زیات شمېر فابریکې په بېلابېلو ... ۷مخ

دستگیری مهاجران رسالت اسلامی و انسانی همه ماست

استوار

هرکس به طریقی دل ما میشکند
بیگانه جدا دوست جدا میشکند
بیگانه اگر میشکند عیبی نیست
از دوست بپرسید چرا میشکند

در شرایط حساس و نازک کنونی که پس از چهارونیم دهه بحران و جنگ کشور ما دوباره صاحب امنیت و یک نظام قوی اسلامی گردید وآهسته آهسته به طرف باز سازی و نوسازی می‌رود تا دوباره به پای خود بایستد وخود کفا گردد، دوکشور همسایه ما ایران و پاکستان که بیشترین مهاجران افغان را با خود دارند، به گونه عجولانه تصمیم اخراج اجباری مهاجران را گرفته اند و در این روند با مهاجران افغان برخورد غیر قابل انتظار می‌نمایند. از چور وچپاول مال و اموال تا ربودن پول و لت وکوب و... اخراج مهاجران همزمان از سوی این دو کشور بی گمان معضل بزرگیست برای امارت اسلامی و رسیده گی به تمام نیازمندی آنها. به هر صورت نهاد های ذیربط دولتی و غیردولتی، شهروندان و بازرگانان همه وهمه در این روند اسلامی و انسانی سهم گرفته و به هموطنان برگشته شان رسیده نمودند ومینمایند.
مشکل اساسی مهاجران برگشته سرپناه و مسکن است. با آنکه نهاد های ذیربط برای برگشته ها درکوتاه مدت چادر وخیمه در نظر گرفته و در دراز مدت زمین برای آنها داده می‌شود تا صاحب سرپناه گردند.
اما آنچه که اکنون مهم و قابل عمل عاطفی و انسانی است، کرایه دادن خانه ها برای مهاجران است. هر چند هستند انسان های خیر و دلسوز که خانه های خود را به طور رایگان در خدمت مهاجران برگشته قرار داده اند، اما تعدادی از این وضعیت ناهنجار سؤ استفاده کرده، کرایه خانه را بالای هموطنان برگشته خویش بی نهایت بی انصافانه بالا برده که دور از اخلاق، انسانیت واسلامیت است.
امروز با یک درهم، یک قدم و یک قلم باید به غرض حلال مشکلات هموطنان سرگردان، دست تهی و بیچاره خویش بشتابیم تا باشد سرمویی از مشکلات آنها را برطرف نموده باشیم.
جا دارد از مردم بادیانت و مهمان نواز هرات سپاسگزاری کرد از بابت اینکه از هموطنان برگشته خویش به نحو خوبی پذیرایی کردند. بایسته است تمام هموطنان ما در حد توان به خدمت خواهران و برادران مهاجر خویش بشتابند و با آنها با خوشرویی برخورد نمایند.
در نهایت امر از دولت جمهوری اسلامی ایران و دولت پاکستان میخواهیم که با مهاجران افغان برخورد نیک نمایند و زمینه برگشت آبرومندانه را برای آنها مساعد سازند.

د ځمکو غاصبین او قطاع الطریقان د یوې سکې دوه مخونه دي

حیات الله حلیم

هره ورځ د رسنیو له لارې د غاصبینو له منګولو د اماراتي ځمکو د اېستلو په زړه پورې خبرونه اورېدل کېږي ، چې د زړه له کومې د عام ولس د خوشحالۍ سبب کېږي، په دري کې متل دی « چراعاقل کند کاری ، که بار آورد پشیمانی» هغو کسانو چې د هېواد په مرکز او ولایتونو کې یې د خپل سرآبي قدرت په وخت کې په یوه او بل نامه دولتي ځمکې غصب کړې، اوس بېرته ترې را ګرځول کېږي، دا په ملک کې د اسلامي او ټولنیزعدالت د پلي کولو له ټولو لوړه بېلګه ګڼل کېدای شي، په دې کې شک نشته چې د ځمکوغاصبین او قطاع الطریقان دواړه د یوې سکې دوه مخونه دي، نوکله چې پر غلو شرعي حد جاري کېږي، نو د ځمکو پر غاصبینو دې هم د ټولنیزعدالت د تامین لپاره د غلو په شان شرعي حد جاري شي، که څه هم قطاع الطریق یا معمولي غل د خپل ناوړه عمل د ارتکاب پرمهال د جرم او وېرې احساس کوي، خو د ځمکې غاصبینو به په رڼا ورځ له وېرې پرته ښارونو ته نږدې دښتو او میرو کې له ملي املاکو دیوالونه را تاوول او یا به یې د ښارونو په څنډو کې مځکې غصبولې او د شهرکونو په نامه به یې په لوړه بیه په بې کوره هېوادوالو پلورلې، اخیستونکو به هم پرته له دې چې په حلال او حرام پسې سر، وخوږوي د دوی پر پله به یې ګام کېښود او په لکونو افغانۍ به یې په یوه چک غاصبینو ته وروشمارلې، په هماغه وخت کې ډېر داسې هوښیار کسان موجود هم وو، چې دا ځمکې یې نه را نیولې، ځکه پوهېدل چې دا ټول ملي ملکیتونه دي چې غصب شوي، نو ځکه حلال نه دي، ځینو هېوادوالو به بیا په حسرت د غصب دا پروسه له نږدې څارله، خو سخت به خفه وو او په دې تمه چې ګوندې داسې وخت را شي چې دا ځمکې بېرته له دې مافیا را وګرځول شي، خپل زړه ته به یې ډاډ ورکاوه، اوس دادي د دوی خوبونه رښتیا شول او د سر په سترګو ویني چې غصب شوې مځکې د غاصبینو له منګولو را ګرځي.

ټول مسلمان ملت د زړه له کومې د اسلامي امارت په دغه بې مثله عدالت خوشحاله دی، نو ځکه دا یو برحق، مناسب او پر ځای ګام او اقدام بولي، حق هم داسې دی، ځکه په زرګونو جریبه ملي املاک په یوه ملک کې په هېڅ قانون فرد ته نشي انتقالېدای او که یې فرد، د قدرت په وخت کې ترخپلې خېټې لاندې کوي دا به هغه غاصب وي چې لاندې ځمکه او پاس آسمان به نه پېژني، نو الحق چې له غاصبینو سره اوسنی غوڅ چلند د ټول ملت له حقوقو څخه دفاع ده، دا هم لازمه ده چې دغه بې رحمه او رندې کړۍ د عادلانه تعقیب لپاره محاکمو ته هم ور وپېژندل شي او پوښتنه ترې وشي چې د کوم جرئت له مخې دوی د دولتي مځکو غصب ته اقدام کړی و؟ دغو له مافیا سره تړلیوعناصرو، نه یوازې دولتي مځکې چور کولې، بلکې له بهره د را تلونکو مرستو شریانونه یې هم د خپلو حریصو خولو په لور سیخ کړي وو، د فساد له لارې په لاس ورغلې پیسې یې بهرنیو هېوادونو ته انتقالولې، دغو بې رحمو عناصرو یوجرم نه کاوه، بلکې په هره برخه کې به تل د متعددو جرایمومرتکب وو، معلومېږي چې لومړۍ درجه مجرمین ، له هغو بېچاره اومظلومو کسانو دوی دي ، چې داغصب شوې مځکې یې په ښارونو کې د شهرکونو په نامه په منفرد ډول پلورلې.

د عام ولس نظردادی چې که یوشمېر دغو مافیایي اشخاصو اوس له وطن څخه پښې سپکې کړې وي، نود انترپول پولیسوپه مرسته دې د استنطاق لپاره د هېواد محاکمو ته حاضر کړای شي.

په دې کړیو کې داسې حلقې هم وې چې د وخت د حکومت تر سترګو لاندې یې مهاجمې داړې (وسلوالې ډلې) هم درلودې. چا به چې د کابل د پنځمې حوزې په مربوطاتو کې کور جوړاوه، نو د دوی برناحقه مداخله حتمي وه، خبره به یې لانجې ته بوتله، مصلحین به هم، بیا دوی وو، کله به یې چې د مځکې نیمایی بیه، د جزیې په توګه ترې واخیستله، نولانجه به حل شوه، مشهوره کیسه ده، په خوشحال خان مینه کې یوه هېوادوال لس منزله بلاک جوړاوه، د سیمه ییزې مافیا بد ماشانو پرې حمله وکړه، خبره د وخت په حکومت ورشریکه شوه، حکومت د جوړ جاړي حکم وکړ، مصلحین خبرو ته سره کښېناستل، په مصلحینو کې د مافیا یي بدماشانو (کاکا) چې یو وخت د یوه جهادي ګوند مشرپاتې شوی و، هم حاضر و او واک له هغه سره و، له وګړي یې وپوښتل، دا ځمکه چې ستاسې پرې لانجه ده، موقعیت یې چېرې دی؟ سړي طبعاً وویل: په خوشحال خان مینه کې، کاکا (!) سمدلاسه وزرونه وغورځول او په لوړه خندا یې وویل: ښه، ښه ما خیال کاوه چې دا متنازع فیه ځمکه به ستاسې په پلرني ولایت کې وي او زما وراره به هلته پسې درغلی وي؟ زه نه پوهېږم چې ته له کومه دومره زورور شوی یې، چې د پغمانیانو په ځمکو کې بېلډنګونه جوړوې؟

قبالو، مبالو کار ورنه کړ، پریکړه په دې شوه چې د بېلډنګ د سردوه منزلونه د کاکا وراره ته ورکړل شي او وراره هم په همدې ځای اعلان وکړ، چې ظالم نه یم زه خپل حق بېرته پرې خرڅوم (!) موږ دا کسان ملامت نه بولو، ځکه « کي راقدرت، داد که ظلم نکرد و کي را، زر داد، کي سود نخورد» اوس دعام ولس نظر دا دی چې له ټولو لومړی د ځمکې غاصبینو ته لوړه جزا وټاکل شي، څو په راتلونکې کې د نورو ابن الوختو کسانو لپاره د پند اوعبرت سبب وګرځي.

د هېواد په کچه نه یوازې په ښارونو کې دا مځکې غصب شوې، بلکې په ولایتونو کې هم غرونه او رغونه د شخصي مفاداتو په محور وځرخېدل، د عدلیې وزارت د خپرو شویو ارقامو له مخې یوازې د ۱۴۰۲ کال په اوږدو کې له دوه نیم میلیونه هکتاره زیاته ځمکه دغاصبانو له منګولو را ګرځول شوې، دا په داسې حال کې ده چې تر نن پورې به ښایي دا ارقام دوه برابره شوي وي.

په پای کې یوه جالب ټکي ته اشاره کوو، هغه دا چې کمونستانو (خلقیانو) خو په شخصي ملکیت باور نه درلود، نو ځکه یې مځکې نه غصبولې او د اسلامي امارت غړي، خو پر خپله اسلامي داعیه بشپړ باور لري چې چور، فساد او د دولتي ځمکو غصب نه کوي، نو پوښتنه داده چې د تېر جمهوریت دبره ماران په کوم باور و؟ چې هغه غرونه او رغونه به یې ټول غصبول چې اوس په شرمندګۍ ترې راګرځول کېږي.

مهاجران و امتحان همدلی

اسفندیار

در روزهایی که هزاران مهاجر از کشورهای ایران و پاکستان به افغانستان بازگشته اند و با ورد این مهاجران جامعه ما با یکی از بزرگترین آزمون‌های انسانی و اخلاقی روبه رو است. بیشتر این مهاجران، نه از روی میل خود، بلکه به اجبار اخراج شده‌اند. آن‌ها پس از سال‌ها زندگی در غربت، حالا با دستان خالی، مشکلات اقتصادی و خانوادگی وارد کشوری می‌شوند که خود با چالش‌های فراوان دست و پنجه نرم می‌کند. در این شرایط، نقش مردم و نهادهای خیریه بیش از هر زمان دیگر مهم و حیاتی است.

در کنار حمایت های حکومتی، این مردم و نهادهای داوطلب و خیر هستند که دوشادوش مهاجران ایستاده‌اند. کار اصلی این نهادها فقط توزیع کمک‌های فوری نیست، بلکه ایجاد حس همدلی، ترمیم روانی و دادن امید به کسانی است که سال‌ها آواره بوده‌اند.

در ولایت هرات که یکی از دروازه‌های اصلی ورود مهاجران بازگشتی از ایران است، در روزهای اخیر نمونه‌های کم نظیری از همیاری مردمی دیده شده است. مردم عادی، بازاریان، علماء، جوانان داوطلب و نهادهای خیریه، دست به دست هم داده‌اند تا به تازه واردانی که بیشترشان در وضعیت

بسیار دشواری هستند، کمک کنند.

گزارش‌هایی وجود دارد که نشان می‌دهد مردم درب خانه های خود را به روی مهاجران گشوده‌اند. برخی از خانواده‌ها مهاجران را برای چند شب در خانه های‌شان پناه داده اند. دیگران، خوراک، لباس، دوا و پول نقد برای آن‌ها تهیه کرده‌اند. در بازارها، افراد خیر داوطلبانه دست به جیب شده‌اند و برای کودکان مهاجر لباس و لوازم ضروری خریده‌اند.

نهادهای خیریه نیز در این میان نقش مهمی ایفا می کنند. سازمان‌ها و گروه‌های مردمی با همکاری جوانان داوطلب، محل‌های موقت اسکان، غذاهای گرم، بسته‌های از مواد ضروری و آب آشامیدنی فراهم کرده‌اند. آنان همزمان تلاش می کنند مهاجران را با خدمات قابل دسترس آشنا کنند؛ از ثبت‌نام در برنامه‌های کمک مالی گرفته تا یافتن فرصت‌های کاری موقت یا خدمات صحی.

یکی دیگر از جنبه‌های مهم این فعالیت‌ها، تلاش برای بازگرداندن عزت‌نفس و روحیه مهاجران است. بسیاری از کسانی که بازگشته‌اند، احساس کم‌بینی نسبت به خود و طردشدگی دارند. وقتی می‌بینند مردم کشور خودشان، با احترام و مهربانی به استقبال‌شان می‌آیند، دل‌شان آرام می گیرد و احساس می کنند هنوز جایی برای آن‌ها در این جامعه است.

البته این کارها بدون مشکلات هم نیست. حجم بالای مهاجران و امکانات محدود، فشار زیادی بر مردم و نهادهای خیریه وارد کرده است. با این حال، روحیه همیاری و نوع دوستی باعث شده است که مردم از خود گذشتگی نشان دهند و با تمام توان تلاش کنند. اما واضح است که این کمک‌ها باید بهتر هماهنگ شود تا تأثیر بیشتری داشته باشد و افراد نیازمند واقعی سریعتر و مؤثرتر کمک دریافت کنند.

همچنین، نیاز است که افراد بیشتری برای این مسئولیت انسانی پا پیش بگذارند. مهاجران بازگشتی تنها از حکومت انتظار ندارند، بلکه نگاه شان به مردم و نهادهای محلی نیز است. هر کسی می‌تواند نقش داشته باشد، چه با کمک مالی، چه با داوطلبی، چه با فراهم کردن اطلاعات و حتی فقط با رفتار محترمانه.

اگر مردم افغانستان نشان دهند که با هم مهربان‌اند، همدل‌اند و در روزهای سخت پشت همدیگر را خالی نمی‌کنند، این کشور، با وجود همه مشکلاتش، هنوز خانه گرم برای همه خواهد بود. این روزها، امتحان انسانیت و برادری است. مهاجران بازگشته، خواهران و برادران ما هستند، نه بار اضافی یا تهدید.

در پایان باید گفت که در بحران مهاجرت، این مردم و نهادهای خیریه‌اند که چهره زیبای همبستگی ملی را نشان می‌دهند. اگر این تلاش‌ها ادامه یابد و از سوی دیگران هم حمایت شود، می‌توان امید داشت که مهاجران بازگشتی دوباره زندگی تازه‌ای را در وطن خود آغاز کنند، با روحیه بهتر، امید بیشتر و حس تعلق واقعی.

سیندونو ته نږدې کېدل د مرګ خطر لري

الحاج مولوي عبدالجبار درویش

قدرمنو هېوادوالو وروڼو! په یو غریب او عجیب انداز کې د رب العالمین نظام چلېږي او روان دی. کله شپه کېږي، کله ورځ کېږي. کله لمر وي، کله سپوږمي وي. کله بارانونه اوروروي، کله ږلۍ اوروي. کله واوره اوروي، کله بادونه او طوفانونه راولي. کله سېلابونه راولي، کله یخني او کله ګرمي راولي او کله هم زلزلې راولي. د اد کریم او رحمان رحیم الله د قدرت عظیمې او ستري نښې نښاني دي. د کریم الله له ثنا او صفت وروسته اوس راځم خپلې موضوع ته. کال څلور فصله دی. پسرلی، اوړی، دوبی او ژمی، خو موږ په عام ډول باندې د دوو فصلونو لپاره ډېر زیات چمتووالی او تیاری کوو چې هغه یو اوړی او بل ژمی دی. په دې دواړو فصلونو کې تکلیف او مشقت زیات وي. د یو انسان طبیعت داسې دی چې نسبتاً له اوړي نه ژمي ته زیات خوښ او خو شحاله وي. لیکن دا دواړه د الله رب العزت موسمونه او فصلونه دي. یعنی دا ټول الله تعالی راولي او په دې ټولو کې د الله تعالی رازونه او حکمتونه دي. په دې ټولو وختونو کې الله تعالی د انسان لپاره خیر او برکت اچولی دی، خو موږ او تاسو نه پوهېږو. غرض مې داو چې په ټوله نړۍ کې انسانان په اوړي کې د لمبا لپاره د سیندونو او نهرونو اړخ ته ډېر کوښښ کوي، چې ډېرې ګرمۍ نه ځان محفوظ کړي. په ځانګړي ډول زموږ د هېواد دننه زموږ او ستاسو نوي ځوانان او د ماشومانو طبقه سیندونو او سترو نهرونو ته ځي او تر دې پورې چې سترو سترو ډېمونو ته هم ځي. نو ای وروڼو! په یاد ولرئ چې کله مو ګرمي کېدله، د مهرباني له مخې خپلو اولادونو ته د ګرمۍ د شدت ختمولو لپاره د لمبا اجازه مه ورکوئ او مه پرېږدئ چې سیندونو ته لاړ شي. دغه ذکر شوي ځایونه د مرګ خطر لري. د دې په ځای که په عزت سره په خپلو کورونو کې ولامبي دا به ښه وي. زموږ اوستاسو په جامعه او معاشره کې دودونه او رواجونه دي چې په اوړي کې به خپل اولادونه سیندونو ډېمونو او نهرونو ته بیایو او کله به پوهېږو او کله به خپل دماغ په کار اچوو، موږ د دې واقعاتو او پېښو شاهدان یو چې ډېر تکړه او پیاوړي ځوانان د دغو خونړیو سیندونو او نهرونو څپو او موجونو وخوړل او ډېرې خویندې میندې یې بورې کړې او ډېرې کورنۍ یې د غم پر تغر وژړولې. اساسي او بنیادي وجوهات دادي، چې موږ او تاسو د خپلو مشرانو اطاعت نه کوو. یعنې خبره یې نه منو، ځکه دغه شان ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کېږو، نو ټولو هیوادوالو وروڼو ته دا توصیه او نصیحت کوم چې له ډېمونو، سیندونو او نهرونو خپل اولادونه لرې وساتي چې داد مرګ خطر لري د دې پر ځای یې د چکر او تفریح ځایونو ته بوزئ. زه تاسو ته دا توصیه کوم چې سیندونو او نهرونو ته نږدې کېدل د مرګ خطر لري.

مطیع الله تراب څوک ؤ

سالمزی

مطیع الله تراب د رسول دوست زوی او د الله دوست لمسی د ننگرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالۍ اړوند د کوز بهار د کاله خېلو په یوه دینداره کورنۍ کې په ۱۳۵۰ل کال دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې. دی د ښوونځي په څلورم ټولګي کې ؤ، چې دغویې د کرغېړنې کودتا او په هېواد کې د جګړو او نا ارامیو له امله د نورو افغانانو په څېر پاکستان ته مهاجر شو. لومړی د پښتونخوا په بده بېره او بیا وروسته یې کرمې ته کوچ وکړ. د هجرت او غربت ستونزو دی له تعلیمي فرصتونو څخه بې برخې کړ. مطیع الله تراب د هجرت او د هېواد د ناورینونو په شرایطو کې شاعري پیل کړه. دی د پښتو ژبې یو ډېرځلېدونکی شاعر ؤ او تراوسه یې په زیاته پیمانه شعرونه لیکلي. د ده د شاعرۍ محرک د هېواد ناورینونه او د خپلو شخصي تجربو دردونه وو. «غبار پر هندارو»، «للمي ګلونه»، «د کاني اوبه» او «سپین بغاوت» یې شعري ټولګې دي، چې د چاپ پر ګاڼه ښکلې شوې دي. اوس مهال د تراب صیب کورنۍ په خوست ولایت کې اوسېږي، دی پر خپل روزګار بوخت ؤ او له پښتو ادب سره د بې کچې مینې په اساس یې ادبي فعالیت ان ترمرګه وپاله. د ده شعرونه د افغانستان په ادبي حلقو کې خورا ارزښتناک وو او په لر او برافغانانو کې یې ځانګړی مقام درلود. د تراب صیب شعرونه د هجرت د کړکېچنو شرایطو، هېواد پالنې او دیني احساساتو انعکاس دی. ده په پښتو ژبه په ساده او روان ډول خپل احساسات او تجربې بیانولې او په ټولنه کې یې د خلکو په زړونو کې غوره ځای نیولی ؤ، چې بالاخره د روان ۱۴۰۴ ل کال دغبرګولي میاشتې په ۲۳ مه نېټه یې خپل روح د زړه د حملې له امله د اجل داعي ته وسپاره او له دې فاني نړۍ یې سترګې پټې کړې.

روح یې ښاد او یاد یې تلپاتې
انالله و انا الیه راجعون

فرهنګیان:

د ولسي شاعر مطیع الله تراب مړینه د پښتو ادب لپاره لویه ضایعه ده

ولسي شاعر مطیع الله تراب چې د روانې چنګاښ میاشتې پر ۲۳مه د خوست په یوه روغتون کې د زړه درېدو له امله په حق ورسېد، جنازه یې د ننګرهار په معلم اول ګل لوبغالي کې ادا او د ننګرهار په خوږیانیو ولسوالۍ کې خاورو ته وسپارل شو. د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي: د نوموړي په جنازه کې زرګونو فرهنګیانو او د نوموړي مینه والو برخه اخیستې وه. د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي ذبیح الله نوراني وایي: ((دا یوه خواشینوونکې پېښه ده. تراب صیب حماسي او انقلابي شاعر و، تل یې حق وایه او د حق لپاره یې مبارزه کوله. خدای(ج) دې د هغه زحمتونه قبول کړي.))ادیبانو او فرهنګیانو تراب انقلابي، حماسي او د ځانګړې وطنۍ مینې درلودونکی شاعر یاد کړ او وایې ویل، مړینه یې لویه ضایعه ده.فرهنګیان ټینګار کوي چې د هغه د فکر د ژوندي ساتلو لپاره باید هڅې وشي او راتلونکي نسل ته د هغه د فکر د انتقال لپاره کار وشي. شاعر اکرام الدین مفتون وایي: « د تراب مړینه په یوه لحاظ د شاعرانو د ټولنې مړینه ده، خو موږ مسلمانان یو... **۷مخ**

د شاعر او لیکوال صدرخان خټک «اعجاز نامه»

نوري

د پښتو ژبې د شاعرانو په کتار کې صدر خان خټک له ځانګړي استعداد او پوهې څخه برخمن شاعر او لیکوال تېر شوی دی. ده هم د خپل پلار په څېر پښتو ادب او کلتور بډای کړی دی. د ادبپوهانو د څېړنو او ګروېږنو له مخې شاعر او لیکوال صدر خان خټک، چې د ستر شاعر او لیکوال خوشال خان خټک زوی دی، پر ۱۰۷۰ لېږدیز سپوږمیز کال په اکوړه کې زېږېدلی دی. صدر خان خټک د خوشال خان د کورنۍ تر سیوري لاندې ښوونه او روزنه تر لاسه کړه. دی د دغې روزنې او ادبي استعداد د غوړېدو په پایله کې په یو ښه، پیاوړي شاعر او لیکوال بدل شو. نوموړی د شعرونو یو بشپړ دیوان لري. پادري هیوز د ده په اړه لیکي:«د خوشال خان په ادبي مکتب کې له اشرف خان هجري او عبدالقادر خان خټک وروسته صدر خان خټک محترم مقام لري.» د صدرخان خټك یو منظوم کتاب اعجازنامه (معجزات) اوس ډاکټر عبدالله جان عابد پېښور کې خپور کړی دی. دغه کتاب لوړ علمي حیثیت لري، ډېره علمي مقدمه،تعلیقات او فرهنګ یې دا خوند نور هم زیاتوي. صدر خان پخپله هم دې ټکي ته نغوته کړې چې ده د خپل پلار او کورنۍ په غېږه کې روزنه او پالنه موندلې ده.

زما پلار ځای یې جنت شه
پر اولاد یې برکت شه
تربیت یې ډېر زما کړ
هر تعلیم یې وما راکړ
په تعلیم یې سخندان کړم
په ویل یې سخن ران کړم
چې یې درست په دا فنون کړم
په ویل یې نور ماذون کړم

خوشال خان خټک پر ۱۰۹۱ لېږدیز سپوږمیز کال په یوه بولله (قصیده) کې د ده په اړه داسې ویلي دي:

صدر خان لا چېري جنګ لیدلی نه و
په دا جنګ یې نېزه سره کړه په خصام

صدر خان خټک د خوږو شعرونو پر دیوان سربېره، په داستان لیکنه کې د داستان لیکونکو شاعرانو په کتار کې ځای لري. ده په خپلو شعرونو کې د ژوند پر نورو مسئلو سربېره، د عشق او مینې نړۍ سره ډېره لېوالتیا ښودلې ده. صدر خان د نړۍ ټول دفترونه او علمونه د مینې له یوه سبقه قربانوي. د دغه شاعر له شعرونو داسې جوتېږي چې دی پر ادبي ذوق سربېره په کلام کې د خپلې کورنۍ په څېر ساده والی، نوی خیال او نوې موضوع په خوږه پښتو ژبه بیانوي او د ادبي تصویر په فن کې د خپل پلار په پیروۍ یو جادوګر هنرمند شاعر دی. صدر خان خټک د کلاسیکې دورې د دویمې برخې د ځانګړتیاوو په لړلو سره د مشاعرې، چې بنسټ یې خوشال خان خټک ایښی و، په فن کې که له عبدالقادر خان څخه غښتلی نه دی، نو کمزوری هم نه دی. ده په خپلو شعرونو کې د خپل ځان لپاره د صدر خوشال نوم یا تخلص هم کارولی دی. دلته د ده د شعر هغه بېلګه راوړو چې د عبدالقادر خان خټک د یوه غزل په ځواب کې یې ویلې ده:

لکه زړه چې زما وسو ستا په غم کې بېلتون هسې
مه شه وریت د جدایۍ په اور کې بل یو لړمون هسې
خط پر مخ د ښایسته وو د قضا نښې همداسې
هر کمال ځواب پذیر دی د دې خط دی مضمون هسې
لکه زده دی ستا د سترګو د جهان پر مخ دلبره
نه دی هسې چا لیدلی جنون هسې افسون هسې
لکه ما د یار په غم کې وجود وسو بیا ژوندی شوم
هېڅ پتنګ موندلی نه دی له څراغه ژوندون هسې
پرون سور په امبالې ته نن په کټ د جنازې ځي
دا دنیا ده دا یې دود دی چې نن هسې پرون هسې
لکه موج په بېلتانه کې زما زړه وهي له سترګو
په دا موج کله بهېږي جیحون هسې سیحون هسې
ستا ځواب عبدالقادره په دا رنګ صدر خوشال کړ
څو بې خانه زه ویل کړم بل به نه کا پښتون هسې

صدر خان خټک په ځوانۍ کې له خپل پلار سره د ملي مبارزې د ډګر او سنګر ملګری او وروسته یې بیا د افضل خان خټک د سردارۍ پر مهال پر ۱۱۲۰ هـ. ق د ټیري د فوجدار دنده ترسره کوله. د صدر خان خټک ژوند تر ۱۱۲۴ هـ. ق کال پورې باوري دی. تر دغه کاله پورې افضل خان خټک د خپل اثر (تاریخ مرصع) د پېښو په بهیر کې د ده نوم راوړی دی. له دې وروسته بیا نه ده جوته چې تر کومه پورې به ژوندی و. چاپ شوي اثار یې:
ادم خان درخانۍ، نامتو ولسي داستان، د ۱۹۸۹ ز کال پېښور چاپ.
اعجاز نامه (معجزات)،اکتوبر ۲۰۲۴ع پېښور.

سیاحت او صنعت به لنډې لارې در وښیي

حبیب الرحمن رحیمي

څرنګه چې ځمکه او د ځمکې بڼه علمي اسرار او پټ رازونه لري، مګر پر دې ټولو پوهېدل څېړنه، سپړنه، مطالعه او عملي کار ته اړتیا لري، خو د دې تر څنګ یوه هغه لاره چې په دې برخه کې موثره پاتې شوې ده عملي څېړنې لاندې ونیول شي، الوتکې د امریکا له هوایي ډګرونو الوتنه پیلوي، د کاناډا له فضا څخه تېرېږي، بیا د روسیې هېواد د یخو سیمو یا سایبریا د پاسه خپل مزله ته ادامه ورکوي تر دې چې جاپان ته ورسېږي.

سیاحت دی چې ډېر رازونه یې د بشري ټولنې په واک کې ورکړي دي او د دې ترڅنګ یې د اړیکو نوې کړکۍ پرانېستې دي، مګر کله چې صنعت له یادې برخې سره مل شوی هغه راز یې را سپړلی دی چې پایله یې د بشري ټولنې هوساینه ده.
د پورته موضوع د لا روښانتیا په موخه یوه بېلګه دیوې پوښتنې په بڼه وړاندې کوو، هغه دا چې ولې د جاپان الوتکې د سایبریا له لارې مکسیکو ته ځي؟
شاید ستاسو ډېر به دا فکر وکړي چې دا ختیځ یا لوېدیځ لور ته ځي، ترڅو له سمندرونو او هېوادونو تېرې شي...
مګر حقیقت یو بل څه دی، هغه الوتکې چې کله له امریکا څخه جاپان ته ځي، د دودیزو ختیځو یا لوېدیځو لارو خلاف په یو بل حیرانوونکې لورې چې موږ ورته شمال وایو الوتنه غوره کوي.
اوس که چېرې یاده هوایي لاره تر اوس پوښتنه دا ده چې ولې دغه مسیر ته د ختیځ یا لوېدیځ خلاف لومړیتوب ورکول کېږي؟
ځواب او راز یې د ځمکې په کروي شکل کې دی. څومره چې شمال یا جنوب ته د استوا له کرښې څخه لرې ولاړ شو، د ځمکې پر سطحه د دوو نقطو ترمنځ قوس لنډېږي د همدې راز له مخې یاده لاره له ټولو لنډه، مؤثره او اقتصادي پرېوزي .
هوایي مزل یا هوایي صنعت یوازې له یوې سیمې بلې سیمې ته تلل نه دي، کوم چې د انساني ټولنو تر منځ راشه درشه غښتلې کوي، بلکې د بشري جوامعو ترمنځ بېلابېلې ټولنیزې ، اقتصادي او فرهنګي اړیکې پیاوړې کوي . په هر حال د یاد راز موندل د نورو ګټو تر څنګ د جغرافیې او فزیک یو درس دی چې د سیاحت او صنعت په برکت موندل شوی دی او اوږدې لارې یې را لنډې کړې دي .

مطالعه د انسان ذهن ته هغه څراغ دی چې د ناپوهۍ تیارې پرې روښانه کېږي

فضلي

له ننني پېچلي پر معلوماتو ولاړې او د ټکنالوژۍ چټکې ودې سره هممهاله عصرکې، مطالعې ته مخ اړول او د کتاب له لارې د پوهې د دروازې پرانیستل، نه یوازې د فردي ودې او فکري غنا لامل ګرځي، بلکې د سالمو، باخبرو او مسئولو وګړو ټولنه هم رامنځته کوي. مطالعه د انساني تمدن بنسټیز عنصر ګڼل کېږي، چې د نسلونو ترمنځ د پوهې لېږد، د فکري لاسته راوړنو پالنه او د فرهنګي هویت ساتنه وربانديې ولاړه ده، خو له بده مرغه، د تېرو ناخوالو او جګړو او د ټکنالوژۍ د ناسمې استفادې او فرهنګي بې‌پروایۍ له امله په افغانستان کې د مطالعې فرهنګ له پامه غورځېدلی و.
په داسې حال کې چې د ملتونو پرمختګ، د هغوی له فکري او علمي ودې سره تړاو لري، د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، هڅې پیل کړي، ترڅو د مطالعې کلتور ته بیا وده ورکړي او د کتاب پر بنسټ د فکري ودې لپاره زمینه برابره کړي. د همدې هڅو په لړ کې، د «کابل کتاب» تر عنوان لاندې دوه ورځنۍ فرهنګي جشنواره روانه اوونۍ ترسره شوه، چې د کتاب، مطالعې او فرهنګي بیدارۍ د ارزښتونو د بیا راژوندي کولو لپاره یې یوه مهمه هیله او هڅه تمثیل کړه. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او کلتور معینیت اړوند د عامه کتابتونونو ریاست، د مطالعې کلتور د بیا احیا کولو په موخه، د «کابل کتاب» تر سرلیک لاندې دوه ورځنۍ فرهنګي جشنواره په لاره واچوله. دا جشنواره د مطالعې ارزښت ته د عامه پوهاوي د لوړولو، د کتابونو ننداري او د ماشومانو، ځوانانو او فرهنګپالو ترمنځ د مطالعې د لیوالتیا زیاتولو لپاره یو مهم ګام و. د یادې جشنوارې د پای غونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ملا خیرالله خیرخواه وویل، چې مطالعه د ذهن آرام، اصلاح او وده تضمینوي. ده وویل: اوسنی وخت د دې ایجاب کوي چې ټولنه لاسونه سره ورکړي او د مطالعې کلتور ته پراختیا ورکړي څو راتلونکي نسلونه د ناپوهۍ له تیارو وژغورل شي.
ښاغلي خیرخواه د ځوانانو او ماشومانو هڅونه وکړه، چې له خپل وخت څخه سالمه ګټه واخلي، د خپلې پوهې کچې ته وده ورکړي او له عصري ټکنالوژۍ د خپل هېواد د پرمختګ لپاره سمه ګټه واخلي.

نوموړي ژمنه وکړه، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت به له خپلې وسې سره سم، د کتابتونونو جوړول، د مطالعې هڅونه، د لیکوالو او ناشرانو ملاتړ او له ملي او نړیوالو بنسټونو سره همکارۍ ته دوام ورکړي.
له بلې خوا، د ځوانانو چارو معین مولوي محمد یونس راشد هم کتاب او مطالعه د علم او پوهې د ودې یوازینۍ لاره وبلله. نوموړي پر نړیوالو بنسټونو غږ وکړ چې یوازې فزیکي مرستې نه، بلکې فرهنګي، تعلیمي او فکري برخو کې دې هم له افغانستان سره مرسته وکړي. د کتابتونونو جوړول، د زده کړو چاپېریال برابرول او د مطالعې امکانات زیاتول هغه اړینې اړتیاوې دي چې د ملت د ودې لپاره بنسټیز ارزښت لري.
د عامه کتابتونونو رئیس حافظ نعمت الله منتظر بیا د مطالعې د ارزښت په اړه په زړه پورې څرګندونې وکړې او ویې ویل، چې مطالعه نه یوازې د فردي پوهې اساس دی، بلکې زموږ د دیني ارزښتونو، اسلامي تمدن او علمي تاریخ له ژورو سره ژوره اړیکه لري. الله (ج) د قلم، کتاب او زده کړې محور د بشري معرفت بنسټ ګرځولی دی. دا خبرې د دې ښکارندویي کوي، چې مطالعه یوازې یوه تفریح نه، بلکې دیني، فرهنګي او انساني اړتیا ده.
جشنواره یوازې په خبرو پای ته ونه رسېده؛ د یتیمو او بې سرپرستو ماشومانو لپاره ځانګړې ډالۍ هم ووېشل شوې، چې دغه کار د انساني خواخوږۍ، ټولنیز مسئولیت او فرهنګي عدالت ښکارندویي کوله. دغه راز د کتابونو یو ورځنی نندارتون هم د کابل د دشت برچي په سیمه کې د خلکو پر مخ پرانیستل کېږي، تر څو کتاب د خلکو تر لاسرسي لاندې راشي. مطالعه د انسان ذهن ته هغه څراغ دی چې د ناپوهۍ تیاره پرې روښانه کېږي. هغه ملتونه چې مطالعه یې فرهنګي عادت وي، تل د پرمختګ، تمدن او باعزته ژوند پر لور روان وي. افغانستان چې له څو لسیزو راپه دې خوا له جګړو، ناپوهۍ او فقر سره لاس او ګرېوان دی، له بل هر وخته اوس د مطالعې، پوهاوي او فکري اصلاح اړتیا لري. د مطالعې د کلتور ترویج یوازې د حکومت مسئولیت نه دی؛ دا یوه ټولنیزه او ملي دنده ده. ښوونځي، کورنۍ، دیني عالمان، ټولنیز بنسټونه او رسنۍ ټول باید د مطالعې د ارزښت په اړه یو غږ اوسي، تر څو زموږ ماشومان او ځوانان له کتاب سره مینه پیدا کړي او پر دې بنسټ یو داسې نسل وروزل شي، چې د خپل هېواد راتلونکي پرې وویاړي.
د اسلامي امارت هڅې، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پر مټ ترسره کېږي، د ستاینې وړ دي. د کتاب جشنوارې، د کتابتونونو پراخول، د فرهنګي بیدارۍ هڅول او د لیکوالو ملاتړ کول ټول د مطالعې د فرهنګ د بیا ژوندي کولو مهم ګامونه دي. که دا لړۍ همداسې دوام وکړي او له نړیوالو ملاتړ هم ورسره مل شي، نو ډېر ژر به افغانستان د پوهې، فرهنګ او تمدن یو ځل بیا ځلېدونکی ستوری شي. راځئ چې کتاب ته بېرته ور وګرځو، مطالعه خپل عادت کړو او راتلونکي نسل مو د پوهې، بصیرت او فرهنګي ودې له لارې له بدمرغیو وژغورو. همدا مطالعه ده، چې ملتونه د غلامۍ له زنځیرونو خلاصوي، د تورتمونو له تیارو یې راباسي او د پرمختګ پر لور یې بیایي. مطالعه وکړئ، مطالعه وهڅوئ او مطالعه وستایئ، ځکه دا زموږ د عزت، پرمختګ او بقا کلي ده.

موضوع : اعلان داوطلبی لیلام یک عراده موتر بوزر (فاضلاب) بانک ملی افغان

(بانک ملی افغان در نظر دارد تا یک عراده موتر بوزر (فاضلاب) خویش را به تاریخ ۱۴۰۴/۰۵/۰۶ از طریق پروسه لیلام به فروش برساند . اشخاص و شرکت هایی که خواهش خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ متذکره ساعت ۹ قبل از ظهر به مدیریت عمومی خدمات بانک ملی افغان واقع ابن سینا وات مراجعه نمایند.

و همچنان پول تضمین (۱۵) فیصد قبل از شروع پروسه لیلام (داوطلبی) نقداً اخذ میگردد . ۶۳۳

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم میرافغان مبارز فرزند گل جان دارنده تذکره نمبر (۹۵۵۰۲ - ۰۹۰۱ - ۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت لوگر مالک امتیاز دواخانه مبارز صابری واقع مرکز ولایت لوگر طی درخواستی به مقام محترم معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم احمد الله راشد فرزند غلام سخی نیازی ولدیت غلام محمد نیازی دارنده تذکره شماره (۴۳۸۰۴- ۰۱۰۱ - ۱۴۰۱) مسکونه اصلی ولایت لوگر گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۵۰۰

موضوع: اعلان دعوت به داوطلب.

وزارت فواید عامه، از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی) پروژه اعمار و احداث کمپلکس مکمل ترازو در ساحه ایرگنک ولایت سمنگان (اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه و اسناد تخنیکی را از آمریت تدارکات امور ساختمانی این وزارت بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت (۰۰ :۱۰ قبل از ظهر) مؤرخ (۳ / ۱۴۰۴/۰۵هـ.ش) به ریاست تدارکات، وزارت فواید عامه، واقع ملالی وات، سرک وزارت داخله اسبق، جوار اداره ملی احصائیه و معلومات ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر بصورت گرنتی بانک مبلغ (۱۴۰,۰۰۰ یک صدو چهل هزار افغانی) بوده و جلسه آفرگشائی به تاریخ (۳ / ۰۵ /۱۴۰۴هـ.ش) ساعت (۰۰ :۱۰ قبل از ظهردر ریاست تدارکات تعمیر وزارت فواید عامه تدویر میگردد.

افغان اعلانات

اطلاعیه لیلام

موسسه ماین پاکی هیلوترست در نظر دارد به تعداد ۱۰۰ تن داغمه جات،فلزات کهنه و تایرهای وسایط مربوط این موسسه را به تاریخ ۱۴۰۴/۵/۱ ساعت ۱۰ قبل از ظهر به لیلام بسپارد.

افراد و شرکت های که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند می توانند به آدرس دفتر ماین پاکی واقع باریک آب تشریف آورده و یا جهت اخذ معلومات به شماره های (۰۷۸۰۷۶۶۰۴۶ و یا ۰۷۰۸۷۲۰۹۰۸) به تماس شوند.۶۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ایمل افغان فرزند عبدالجان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۳۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسمیا خان فرزند نوشیر خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ربیعه خان فرزند نوشیرخان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حکیم خان فرزند نوشیرخان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سبنا نوری فرزند ضیا احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالرحیم یوسفزی فرزند غلام حضرت مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بشیر خان فرزند عبدالمحمد خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز احمد شیرخانی فرزند عبدالرشید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کریم ارمانی فرزند خان گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم آصفه خان بنت عبدالقدوس مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۶۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد بابر بیک زاده فرزند حمید الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سبحان الله صادق فرزند عبدالرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۱۳۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله حبیبی فرزند حبیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مبین هاشمی فرزند الله محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۷۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رسول جان امیری فرزند لالاجان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ابوالفضل رضایی فرزند داد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمت الله محمدی فرزند ملا محمد یحیی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شکر خان زاخل فرزند عسکر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عتیق الله اسحق زی فرزند حاجی غلام حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم دور محمد ترکمن فرزند چولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم موسی خان علی زاده فرزند چمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۶

اطلاعیه مفقودی

یک **جلد** پاسپورت سیاحتی به اسم صفر محمد نوروز خیل فرزند احمدزی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۸۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالواجد احمدزی فرزند عبدالودود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۲۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی رضا جعفری فرزند قدرت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میوند وفا فرزند لعل آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۷۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مرضیه کوهستانی فرزند محمد اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۹۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مینه کوهستانی بنت عبدالحفیظ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مروه کوهستانی بنت عبدالحفیظ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۰۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد یوسف عباس فرزند عبدالحفیظ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۰۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد جواد فرزند غلام حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد امیری فرزند فدا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میثم فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم انعام الدین اسلامی فرزند نظام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله حسینی فرزند قربانعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد شاه نبی زاده فرزند پاینده گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رضا فرزند ناظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله قلندری فرزند طلا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۸۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شهنواز بیگ فرزند دلاور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فضل الرحمن صافی فرزند وزیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالحلیم اوزبیک فرزند عبدالحکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خلیل میرزایی فرزند اقبال علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمود حسینی فرزند محمد عیسی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حضرت الله نعیمی فرزند ملتان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جان بی بی ظریف بنت ظریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کریمه رمضانی بنت عبدالحمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هدایت الله صافی فرزند سمیع الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید نظیر سادات فرزند سید ارحام الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۹۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خدیجه رضایی بنت قربان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۱۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وحیده مخلص بنت محمد اسحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سیف الدین شینواری فرزند تاج الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جاوید صالح فرزند میرا جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله یوسفی فرزند یوسف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۵۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ناصر خان صالحی فرزند مستوخان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رونا فقیری فرزند اسد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۰۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم داود ناصری فرزند جمعه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۲۰۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نیک محمد خدر فرزند عبدالرسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۶۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید طاها هاشمی فرزند سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد اشرف شریفی فرزند محمد شریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۶۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عمر علی حیدری فرزند امام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدرت الله مرادی فرزند امین الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۲۱۶۴

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت مجوز حمل سلاح دارای شماره ۳۷۰ نوع کلاشینکوف مربوط محترم محمد آصف فرزند محمد کریم مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشند.۵۴۰

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی نکاح خط به اسم نیک محمد نیازی فرزند خان محمد و محترمه زحل ایشان بنت نثار احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۴۱

اطلاعیه مفقودی

ترجمه انگلیسی تذکره تابعیت به اسم شمریز کریمی فرزند مالک مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۱۵۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه تذکره تابعیت کشور ترکیه به اسم آیلین اسلان فرزند امیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۱۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز کار اتباع خارجی تبعه کشور چین به اسم وانگ ژینگبین فرزند وانگ لی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۲۳

اطلاعیه مفقودی

به تعداد یک قطعه ایروبل دارای نمبر ۲۳۵-۵۲۶۳۲۱۲۳ و یک قطعه انوایس دارای نمبر ۱۳۱۷۶۲۲ مربوط دفتر شرکت لوژستیکی لیا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۷

اطلاعیه مفقودی

آمریت صحت عامه وترنری و قرنطین در ناحیه اول شهر کابل جهت کنترول محصولات حیوانی یک تن وترنر خویش را موظف نموده است که در ناحیه فوق الذکر یک طغرا مهر برنجی کنترول محصولات حیوانی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۱

امت ولې د خپلو حقیقي ...

ویښتیا یې د علماوو خپل مسؤلیت وګاڼه. خو کله چې دا اړیکه پرې شي، یعنې عالم د وخت له درد، وسایلو، او ژبې بې‌خبره شي، نو له خلکو سره اړیکه پرې کېږي، او دا فکري خلا هغو وارداتي ځېرو ته ځای ورکوي چې د خلکو اړتیاوې ولو که له اصله منحرفې، خو په عصري ژبه پوره کوي. دا حالت له یوې خوا د اصلي علماوو د اغېز کمښت، او له بلې خوا د امت د فکري انحراف لپاره زمینه برابرول دي، چې دواړه د زوال نښې دي.

نو کله چې فکري ضعف، رسنیز تسلط، حکومتي بندیز، داخلي غفلت، او امت کې د اخلاص کمښت سره سره راشي، نو پایله همدا وي چې امت له خپلو ریښتینو علماوو نه لېرې کېږي، او هغه کسان لارښود ګڼي چې د دین له روح سره هېڅ تړاو نه لري. دا یو لوی فکري سقوط دی، چې د امت د زوال اصلي نښه ګڼل کېږي.

د حل لاره دا نه ده چې یوازې شکایت او غندنه وشي، بلکې واقعي بیداري، فکري اصلاح، او عملي اقدام ته اړتیا ده. امت باید دا وپېژني چې څوک رښتیني عالم دی، څوک تقلبي څېره ده، او څوک د دین او امت ریښتیني خدمتګار دی. باید د علم، تقوی، اخلاص، بصیرت، او جرأت معیارونه بېرته ژوندي شي، خو د عالم پېژندنه د ښکلي لباس او خوږې لهجې پر ځای د تقوا، ژور فهم، او حق‌محور دریځ پر بنسټ وشي. حقیقي علما باید یوازې په مدرسه او محراب کې محدود نه شي، بلکې د امت د فکري، ټولنیز، سیاسي او تمدني ژوند رهبري هم ورته وسپارل شي. د رسنیو له لارې باید هغوی ته مخه ورکړل شي، هغوی ته باید د اعتماد فضا جوړه شي، او امت ته دا باور بېرته ور کړل شي چې د دوی رهبري د الهي هدایاتو، نبوي سنتو، او د شریعت د اصولو پر بنیاد ولاړه ده، او لا هم د امت د دین، عزت، او فلاح د حفاظت لپاره مشروع، مسؤول، او ملت‌پاله جهت ګڼل کېږي.

فکري جهاد دا نه دی چې خلک یوازې فصیحو خبرو ته راوبلو، بلکې دا دی چې هغوی د ظاهر نه ژور معنا ته، د شور نه شعور ته، او د بڼې نه حقیقت ته راواړوو. باید امت ته دا حقیقت بېرته ور وپېژنو چې د دوی ته نجات او عزت یوازې هغه علما راوستلی شي چې له کتاب، محراب، منبر، او میدان سره یو شان تړلي وي – نه هغه څوک چې له بهره را وارد شي، او د امت د عقیدې، فکر، او هویت د له منځه وړلو لپاره د ښکلي بیان او عصري اصطلاحاتو پرده وکاروي.

په همدې برخه کې اسلامي امارت د یادو شوو ټولو ساحو په اړه ژور، عملي، او تدریجي ګامونه پورته کړي دي. امارت هڅه کړې چې ریښتیني علما د دولت په مشورتي، عدلي، او تعلیمي نظام کې را شامل کړي، له محرابه تر رسنۍ یې حضور ته لاره هواره کړي، د دیني مدارسو او علمي مراکزو استقلال وساتي، او د تقلبي، مزدور، او فکري استعمار پلوه څېرو پر وړاندې د اسلامي اصالت دفاع وکړي. همداراز، د شریعت د بصیرت‌محوره تطبیق، د عدالت تأمین، او د امت د عقیدوي وحدت لپاره، امارت داسې فضا رامنځته کړې چې پکې عالم نه یوازې د دین استازی وي، بلکې د ملت د زړونو رهبر هم وي. دا یوه مهمه لاسته راوړنه ده چې باید وساتل شي، وغوړول شي، او له فکري ملاتړه برخمنه شي.

مهاجرت های کاریابی را ...

بنابرین این روز ها در گذر است، اما چیزی که ثبت تاریخ می گردد و وحدت میان افغانها را استحکام می بخشد، شتافتن هموطنان ما به بنادر اسلام قلعه _ نیمروز و احساس همدردی شان با برادران رنج دیده شان است.

روی این اساسی، موضوعی که در این جستار مورد ارزیابی قرار گرفته و دارای اهمیت است، مسئله سرمایه گذاری، سرمایه داران ما در داخل کشور است.

امروز خوشبختانه کشور عزیز ما در یک امنیت کامل و مطمئن بسر می برد و زمینه سرمایه گذاری بیشتر از هر زمان دیگر مساعد و سرمایه گذاران نیز از سوی امارت اسلامی، حمایت می شوند .

پس در این صورت ایجاب می کند که سرمایه داران ما به تآسی از تعهد و رسالتی که در برابر وطن و مردم خود دارند، سرمایه های خود را به داخل کشور انتقال و سرمایه‌گذاری کنند تا اینکه زمینه اشتغال برای جوانان ما نه تنها که مساعد گردد، بلکه سبب رشد و توسعه اقتصاد کشور نیز شوند،که این رشد اقتصادی از یک سو از وابستگی کالا های وارداتی ما را رهایی می بخشد و از طرفی هم با ایجاد زمینه کار برای نسل جوان، دیگر نیازی به هجرت و ترک وطن، بخاطر بدست آوردن لقمه نانی نخواهد بود، زیرا افغانستان نه تنها دارای موادخام وافر معدنی است، بلکه دارای ظرفیت های کاری و مسلکی، همچنان نیروی فزیکی بیشتر نیز می باشد.

تېرو ۲۰ ورځو کې ۱۲۲ زره افغان کډوال راستانه شوي

د نیمروز مسئولینو ویلي، چې له ایران څخه په تېرو ۲۰ ورځو کې ۱۲۲ زره افغانان د دغه ولایت د وریښمو لارې له لارې هېواد ته راستانه شوي دي، په راستنو شویو کسانو کې ۲٦ زره ٥ یې مجرد او ۲۲ زره کورنۍ دي. د نیمروز مسئولینو په یوه مطبوعاتي اعلامیه کې ویلي، چې د راستنېدونکو کډوالو کورنیو سره د ملاتړ او مرستې لپاره د اسلامي امارت له بودیجې څخه نغدي مرسته شوې ده او وړ کسان د نورو مرستو لپاره اړوندو مرستندویو ادارو ته معرفي شوي دي.په مطبوعاتي اعلامیه کې ویل شوي، چې دغو راستنېدونکو اتباعو ته په بېلابېلو برخو کې منظم خدمات چمتو شوي دي او دوی د وړیا ترانسپورت له لارې خپلو ولایتونو ته لېږدول کېږي.په مطبوعاتي اعلامیه کې زیاته شوې، چې پر نورو خدماتو سربېره، د خوړو، پاکو اوبو، روغتیا، ترانسپورت او مخابراتي شبکو په برخو کې اړینې اسانتیاوې رامنځته شوي دي او د وریښمو لارې په اوږدو کې د کډوالو د لنډمهاله استوګنې لپاره منظم ځایونه رامنځته شوي دي .د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر (OCHA) وایي چې په ایران کې د سیاسي کړکیچونو زیاتېدل او په هغه هېواد کې د افغان کډوالو په وړاندې منفي چلند د افغانانو د راستنېدو په شمېر کې د بې ساري زیاتوالي او د راستنېدونکو د بدلېدونکي جوړښت لامل شوی دی.

بیش از ۷۰۰۰ کیلوگرام تریاک در تخار آتش زده شد

مقام‌های امنیتی در تخار اعلام کرده که بیش از هفت هزار کیلوگرام مواد مخدر نوع تریاک در این ولایت به آتش کشیده شده است. نظام‌الدین عمیر سخنگوی فرماندهی امنیه‌تخار گفت که این امارت اسلامی در این ولایت کشف و ضبط شده بود. عمیر افزود که ۷ هزار و ۲۴۵ کیلوگرام تریاک در سه موتر تانکر حاوی تیل و گاز جاسازی شده بود و قرار بود به مقصد نامعلوم انتقال یابد. امارت

مقدار مواد مخدر به تاریخ ۲۴ سرطان- در منطقه «تنگی فرخار» تخار از بین برده شده است. به گفته سخنگوی فرماندهی امنیه تخار، این مواد در جریان سه هفته گذشته از سوی نیروهای امنیتی اسلامی در نزدیک به چهار سال سیاست سخت‌گیرانه در برابر کشت و قاچاق مواد مخدر روی دست گرفته و همواره تاکید کرده که متعهد به ریشه‌کن‌سازی مواد مخدر در سراسر افغانستان است.

د صنعت له ودې پرته ...

لاملونو تړل شوې دي، چې دا خپله د ملي اقتصاد لپاره ستر زیان دی. د دغو فابریکو بیا فعالول یو له هغو اقداماتو څخه دي چې هم د صنعت د احیا معنا لري او هم له شته منابعو څخه د استفادې. که حکومت او خصوصي سکتور په ګډه، دغه فابریکې بیا فعالې کړي، نو د وارداتو اړتیا به کمه، د صادراتو کچه به زیاته، کاري زمینه به پراخه او اقتصادي خودکفایي ته به لاره هواره شي. دا کار یو تدبیر غواړي، چې هم پولي او هم حقوقي ستونزې حل شي او د صنعتکارانو ملاتړ وشي. په دې وروستیو کې له ګاونډیو هېوادونو څخه راستانه شوي کډوال که څه هم له ستونزو سره مخ دي، خو یوه مهمه ملي شتمني ګڼل کېږي. دوی له بهرنیو تجربو برخمن دي او د کار او تولید روحیه لري. که د دولت او خصوصي سکتور له خوا ورته کار پیدا شي، نو دا ځواک به د هېواد د اقتصاد په خدمت کې واچول شي.

دا کاري فرصتونه د صنعت له ودې سره تړلي دي. فابریکې، تولیدي واحدونه، تخنیکي کارونه او ساختماني پروژې ټول د کارګر او متخصص ضرورت لري .که دا ځواک ګټور استعمال شي، هم به اقتصادي فشار راکم شي او هم به د ټولنې باور پیاوړی شي. د اسلامي امارت مشر، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د صنعتي ودې لپاره ځانګړې پاملرنه کړې، دا نه یوازې د صنعت د ارزښت څرګندونه ده، بلکې دا پیغام هم لري، چې افغانستان نور غواړي اقتصادي استقلال ولري یو هېواد چې خپل خوراک، جامې، درمل، ماشینونه او نور توکي تولید کړي، له بهرنیو مرستو خلاص شي او د خپلو خلکو له لارې خپل بازار بسیا کړي، هغه هېواد پر خپلو پښو ولاړ دی.

د صنعت سکتور ارزښت یوازې په تولیداتو نه، بلکې د هېواد د اقتصادي ودې، سیاسي ثبات، د خلکو د کار موندنې، د پانګونې د ودې، د صادراتو د زیاتوالي او د ملي افتخار د پیاوړتیا لپاره حیاتي دی. اسلامي امارت چې د امنیت، پانګونې، تولید او همغږۍ لپاره واضحې تګلارې لري، باید د صنعت سکتور لا پراخ کړي. د صنعتي پارکونو جوړول د غیرفعالو فابریکو بیا فعالول، د صنعتکارانو تشویق، د کاري زمینو برابرول او د خپلو امکاناتو اغېزمن مدیریت هغه اقدامات دي چې افغانستان د اقتصادي ثبات پر لور بیایي.

که د صنعتکارانو رول، د حکومت پاملرنه، د ولس ملاتړ او د پانګوالو جرئت یو له بل سره مله شي، نو افغانستان به د پر ځان‌بسیا هېوادونو په کتار کې ودرېږي. دا هدف شونی دی، که یې مخلصانه تعقیب کړو.

د ولسي شاعر ...

او ژوند به کوو. تراب د فرهنګ، ولس سپینه ژبه وه او د فرهنګ غرور و. موږ یې په مړینه له زړه خپه یو.)) د پوهنتون استاد جاوید مومند وایي: ((تراب صیب په اصل کې مړ نه دی، د هغه روح به ژوندی وي، شعر او کتابونه به یې د ځوانانو لپاره الګو وي او د ځوانانو په زړونو کې به ځای لري.)) فرهنګي فعال ګران محمد ګران وایي: ((تراب صیب شاعر و، خو ترڅنګ یې لوی فکر هم و. مشران ښوونکي یې باید لاره کشرانو ته انتقال کړي.)) مسئولین بیا ډاډ ورکوي، چې د نوموړي د فکر د ژوندي او د هغه د اشعارو د خوندي کولو لپاره هلې ځلې وکړي.د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي ذبیح الله نوراني زیاتوي: ((موږ باید د تراب صاحب یاد تازه وساتو او افکار یې روښانه کړو او ولس ته یې ورسوو. د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست به په دې لاره کې خپلې هڅې جاري وساتي.)) مطیع الله تراب چې اصلاً د ننګرهار د خوږیانیو ولسوالۍ اوسېدونکی و، د خپل کسب او کار له امله په خوست کې اوسېده. د کورنۍ غړي یې وایي: د څلور پنځوسو کلونو په عمر کې وفات شو.

د کانونو پر قانوني استخراج ...

زړه، آرام اوهوسا خاطرپانګونې وکړي او په افغانستان کې له برابرو شویو فرصتونو څخه ګټه واخلي، داهم یوڅرګند واقعیت دی که بهرني مرستندوی بنسټونه د نورو مرستو پرځای په افغانستان کې پانګونې وکړي، له شک پرته چې زموږ د پټمنو او جګړه ځپلو خلکو په ګټه تمامیږي، ځکه له یوه پلوه زموږ خلک کسب او کار زده کوي، له بل پلوه هېوادوالو ته په هېواد کې دننه د کاراو سالمو بوختیاوو زمینه هم برابرېږي او په ټولیزه توګه دهېواد او هېوادوالو داقتصادي پرمختګ سبب کېږي. پردې بنسټ په ټوله کې دهېواد د کانونو د استخراج بهیر پیل کېدل په اصل کې ګڼ شمېر کاري بوختیاوې هم رامنځته کوي او دهېواد ډېر ځوانان چې همدا اوس د بېکارۍ او بې روزګارۍ له امله د مهاجرت ستونزمن ژوند ته مخه کوي، دوی ټولو ته په هېواد کې دننه د سالم کار او روزګار زمینه برابرېږي، نو اړینه ده چې افغان پټمن ولس باید په هراړخیزه توګه له اسلامي امارت سره همکار او مرستندوې و اوسي ترهغه چې اسلامي امارت وشي کولای د ولس په پراخه همکارۍ او ملاتړ په هېواد کې د ډاډمن امنیت د ټینګښت ترڅنګ د هېواد د کانې زیرمو د سالم استخراج، د اقتصادي بنسټونو د ودې او پراختیا په برخه کې خپل پلانونه په ښه توګه تطبیق کړي او په دې توګه په پایله کې د ګران هېواد د پرمختګ او د قدرمنو هېوادوالو د هراړخیزې هوساینې سبب شي او دمګړۍ چې ګران هېوادوال له کومو ستونزو سره مخامخ دي، بې له شکه چې دغه ستونزې یوازې او یوازې د هېواد د ملي اقتصاد د ودې او پرمختګ په پایله کې سمبښت مومي.

د بېرته راستنو شویو ...

چې د کار موندنې په موخه باید د راستنو شویو له مهارتونو او زده کړو ګټه پورته شي. نوموړي زیاته کړه، چې د راستنو شویو کډوالو د کاري ظرفیت لوړېدو او د هغوی د نیمګړو زده کړو بشپړولو ته دې اړوندې اداري رسېدنه وکړي، څو راستانه شوي هېوادوال په ټولنه کې د کار کولو وړ وګرځي. مولوي عبدالکبیر همدارنګه د اقتصاد او صنعت او سوداګرۍ له وزارتونو وغوښتل، چې په خپلو چارو او ترونونو کې راستنو شویو ته لومړیتوب ورکړي او د کلیوالي اقتصاد پیاوړتیا ته پام وکړي. دغه راز د صنعت او سوداګرۍ وزیر نور الدین عزیزي په خصوصي سکتور کې د افغان راستنو شویو د جذب د کچې او په دې برخه کې د شویو ژمنو په شریکولو سره وویل، چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت به د خپل پنځه کلن پلان پر مټ هر کال زرګونو کسانو ته کار پیدا کړي او همدارنګه راستنو شویو ته د کوچنیو کارونو په رامنځته کولو تمرکز لري .د ښاغلي عزیزي په وینا: اسلامي امارت د اړتیا وړ څمکه د صنعت او سوداګرۍ وزارت په واک کې ورکړې، چې صنعتکارانو ته به ورکړل شي. ورپسې د کرنې او مالدارۍ وزارت مرستیال مولوي صدراعظم عثماني وویل، چې د کرنې وزارت راستنو شویو ته د کرنې او مالدارۍ په برخو کې د مناسبو کاري فرصتونو د رامنځته کولو توان لري او همدارنګه کولای شي چې کډوالو ته په یو لړ شرایطو سره د اړتیا وړ مالي امکانات هم چمتو کړي. ښاغلي عثماني زیاته کړه، چې له ایران او پاکستان څخه راستانه شوي هېوادوال د کرنې او مالدارۍ په برخو کې ښه مهارتونه لري او دا مهال افغانستان پر کرنې سربېره د چرګانو، کبانو او لبنیاتو په تولید کې ښه فرصتونه او بازار لري. د ناستې پر دوام د اقتصاد وزارت استازي وویل، چې یاد وزارت د کاري فرصتونو پیدا کېدو په موخه په هېواد کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته هڅې کوي او له موسسو او نورو اړوندو ادارو سره په ترونونو کې راستنو شویو ته د کاري فرصتونو چمتو کولو ته لومړیتوب ورکوي. د ناستې په پای کې له بحث او خبرو وروسته راستنو شویو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو د چمتو کولو په موخه د یادې کمېټې د چارو د ګړندي کېدو او اغېزمن فعالیت لپاره شوي وړاندیزونه و اروزل شول او د یو شمېر موضوعاتو به هکله پرېکړې وشوې.

هلمند کې ټرافیکي پېښې ...

او ۴ تنه ټپیان شوي دي چې اوس‌مهال د روغتیایي کارکوونکو تر څار لاندې دي.» د معلوماتو له مخې، په دې پېښه کې ٥۸۰ ډوله موټر چې له هرات څخه کابل ته راروان و، له یوه بل «مونۍ ډوله» موټر سره چې له کابل څخه هرات ته پر لاره و، ټکر کړی دی.

فراه ښاروالۍ ۲۵ میلیونه ...

او د خلکو په همکارۍ ترسره شوې ده. په همدې حال کې فراه ښاروال مفتي سردار محمد مرصاد دغه پرمختګ د خلکو د همکارۍ او ښې رهبرۍ پایله وبلله او له ښاریانو یې وغوښتل چې د ښار د پراختیا او نظم لپاره لا همکار پاتې شي. سرچینه زیاتوي، چې د فراه ښاروالۍ د ۱۴۰۴ کال لپاره ۱۸۰ میلیونه افغانۍ پراختیایي بودیجه ځانګړې کړې، چې له مخې به یې په دغه ولایت کې د څاروپو د ذبحې مسلخ، ګنج، معیاري هوټل، لوبغالي، د واټونو د څراغونو او سړکونو ۲۸ پروژې پلې شي.

د پانګونې بین الوزارتي ...

د سوداګریز او استوګنیز مارکېټ جوړولو او همداراز د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د ستراتېژیک چوکاټ جوړولو طرحه هم د بحث لپاره وړاندې شوې.د یادو طرحو د هر اړخیزې ارزونې لپاره کمېټې وټاکل شوې، څو په ټاکلې وخت خپل راپورونه د پانګونې بین الوزارتي کمېټې سره شریک کړي.

د سیاحتي زیارتي او عمرې ...

په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او ویلي یې دي، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ژمن دی، ترڅو د دوی لپاره اړینې اسانتیاوې برابرې کړي. وروسته د سیاحتي، زیارتي او عمرې شرکتونو استازو د سیاحتي چارو په برخه کې د اسانتیاوو د برابرولو له امله له وزارت څخه مننه کړې او خپل وړاندیزونه، نظریات او غوښتنې یې شریکې کړې دي. په ورته مهال، ښاغلي جمال د ګډونوالو وړاندیزونه او نظریات اورېدلي او هغوی ته یې د هر اړخیزې همکارۍ او د ستونزو د حل ډاډ ورکړی دی. د یادونې وړ ده، چې د کورنیو چارو، عدلیې او مالیې د وزارتونو او د امنیتي ادارو له استازو سره هم د همغږۍ ناسته شوې ده. همداراز په دې ناسته کې د شرکتونو د اتحادیې ستونزې له اړوندو وزارتونو او امنیتي ادارو سره شریکې شوې، چې هغوی هم د ستونزو د حل ډاډ ورکړی دی.

بلخ کې د پنبې کاروباریان ...

د پاکستان د بدیلې لارې غوښتنه کوو. دولت ته مو هم دا بار بار ویلي چې د واخان له لارې دې چین او نورو هېوادونو ته زموږ محصول صادر شي.))مسئولین د پنبې صادراتو او د یاد کرنیز محصول د پروسس په برخه کې د شته ستونزو په تأیید سره ډاډ ورکوي چې له دې برخې سره یې همکارۍ ډېرې کړې دي او ستونزې یې له پامه نه غورځوي. ځایي مسئولین همدا راز ډاډ ورکوي چې د بدیلو لارو په تړاو بحثونه نهایي شوي او تمه شته چې ځینو هېوادونو ته په یاده برخه کې صادرات پیل کړي. د بلخ د صنعت او سوداګرۍ ریاست مرستیال نصیر احمد نیازی وایي: « د صنعت او سوداګرۍ ریاست تګلاره او کړنلاره دا ده چې صنعتکاران باید تقویت شي. موږ د صنعت د تقویې او لا پیاوړتیا لپاره متعهد یو. د صنعت د لا ډېرې ودې په موخه لازم پروګرامونه او مېتودونه ترلاس لاندې لرو.)) بلخ چې په زیاته پیمانه پنبه په کې کرل کېږي، د احصایې او معلوماتو ملي ادارې له معلوماتو سره سم، تېر کال په ټول هېواد کې ۱۵۹ متریک ټنه پنبه تولید شوې چې له هلمند وروسته بلخ دویم ځای لري او په کې ۳٤ متریک ټنه پنبه تولید شوې وه.

لوګر کې د ۲ کورنیو ...

د کورنۍ تاوتریخوالي ۱۱ قضیې حل کړې دي. په خبرپاڼه کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست له لوري ټینګار شوی چې دا مهال په هېواد کې د ټولنیز ثبات، د اسلامي ارزښتونو د پلي کېدو او د سالم کورني جوړښت لپاره جدي هڅې پیل شوې دي.

بدخشان کې د لوی ...

لوی پامیر د افغانستان له لرې پرتو سیمو څخه دی، چې دغې سیمې ته د حکومت له لوري د سړک جوړول بې مخینې دي. د یادونې وړ ده، چې دغه سړک به لوی پامیر کې د روغتیا، زده کړو او مخابراتي خدمتونو چټکتیا ته هم لاره هواره کړي.

لغمان کې د چنګاښ میاشتې ...

د ځمکو وېش پیل کړو؛ لومړنې مراحل یې بشپړ شوي دي او هڅه کوو چې له نړیوالو مرستندویو ادارو هم مرستې راجلب کړو، چې د دغو جلبولو چارې تر یوې اندازې مخته هم تللې دي .د لغمان چارواکي وایي: د بې‌ځایه شویو کډوالو د وضعیت د ښه‌والي لپاره پر لنډمهالو اسانتیاوو بسنه نه کوي، بلکې د تلپاتې حل لپاره د دایمي مېشتېدو، د سرپناه جوړونې او اقتصادي ملاتړ هڅې هم پیل شوې دي .له ایرانه راغلي کډوال هم د اسلامي امارت هڅې ستایي او قدرداني یې کوي. دوی وایي چې اسلامي امارت یې ټولې ستونزې په نظر کې نیولې او رسېدنه یې ورته کړې ده. له دې وړاندې د ریاست الوزراء اداري مرستیال او د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمیسیون مشر عبدالسلام حنفي ویلي و، چې دغو کډوالو ته له ښه راغلاسته نیولې، تر دایمي ځمکې ورکولو او کار پیدا کولو ژمن دي او هرې ستونزې ته به یې پر وخت رسېدنه وشي.

تاج محمد بهار

غور کې د ۴ پراختیایي ...

چې دغه پروژې د یادې ښاروالۍ له انکشافي بودجې څخه د ۱۹ میلیونه ۱۱۸ زره ۳۴۸ افغانیو په لګښت تمویلېږي. د نوموړي په وینا، په دغو پروژو کې د سړکونو، استنادي دېوالونو، کانالونو، واټونو، پارکونو او نورو تاسیساتو جوړول شامل دي، چې چارې به یې د دوو میاشتو په موده کې بشپړې شي.

د سیمې اوسېدونکي د یادو پروژو په پلي کېدو خوښ دي او وایي، چې د یادو پروژو په بشپړېدو سره به ورته په بېلابېلو برخو کې اسانتیاوې برابرې شي.

یک مدرسه دینی ...

وی افزود که مدرسه مذکور در یک طبقه ساخته می‌شود و شامل صنف‌های درسی، اتاق اداری و سایر امکانات مورد نیاز خواهد بود .رئیس معارف پکتیکا گفت: ما از چنین مردمی قدردانی می‌کنیم که سرمایه، وقت و تلاش‌شان را در راه تربیه و آموزش فرزندان‌شان مصرف می‌کنند.

او خاطرنشان کرد که ریاست معارف پکتیکا متعهد به حمایت از چنین ابتکارات اجتماعی است و تلاش دارد تا محیط متوازن برای آموزش دینی و عصری را فراهم کند.

Hewad Daily

پنجشنبه د محرم الحرام ۲۱ مه ۱۴۴۷ق کال | د چنګاښ ۲۶ مه ۱۴۰۴ ل کال | د 2025م کال د جولای ۱۷ مه

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع ځانګه:
۰۷۳۶۰۶۰۷۳-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹

د پانګونې بین الـوزارتي کمېټې غـونډه وکـړه

لغمان کې د سوداګرۍ مارکېټ او هـرات کـې د سـوداګریز کمپلکـس د جوړولو طرحې د تائید وړ وبلل شوې. د پانګونې بیـن الـوزارتي کمېټـې نوبتي غونډه وړمـه ورځ په مرمرینه ماڼۍ کې وشـوه. غونډې ته له اجنډا سره سم په لغمان ولایت کې د کرنـې، اوبـو لګولو او مالدارۍ وزارت پـر ځمکه د سوداګرۍ مارکېټ جوړولو او د هرات ولایت په اسـلام کلا بندر کې د سوداګریز کمپلکس جوړولـو طرحـې د تأیید لپاره وړاندې شـوې. له هر اړخیزې ارزونې وروسـته یادې طرحې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې له لوري د تأیید وړ وبلل شوې. دغـه‌راز دې غونډې ته په کابل ښار کې ... ۷مخ

د سیاحتي زیارتي او عمرې شرکتونو اتحادیې له مسئولینو سره د همغږۍ غونډه

د اطلاعاتـو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري چارو د مرسـتیال مولوي قدرت‌الله جمال پـه مشرۍ، د زیـارت کوونکو د ناستې موخه د ویزې اخیستلو او د سـفر په برخه کې د اسـانتیاوو رامنځته کول، د زیارت کوونکو د امنیت تامین، د سیاحتي جوازونو

ستونزو د حل او ورته د اسانتیاوو د برابرولو په موخه د سـیاحتي، زیـارتي او عمـرې شرکتونـو له مسـئولینو سره د همغږۍ ناسـته وشـوه.د وزارت په وینـا، د دې ترلاسـه کـول او تمدیـد او دغه راز دې سـکتور تـه د یـو واحد طرزالعمـل برابـرول وو .مولوي قدرت‌الله جـمال د افغان زیارت کوونکو د سفرونو ... ۷مخ

بلخ کې د پنبې کاروباریان د صادراتو لپاره د پاکستان پر ځای د بدیلو لارو غوښتنه کوي



بلخ کـې د پنبـې کاروباریان او سـوداګر وایي: اسـلامي امارت دې ورتـه د پاکسـتان پر ځای په بله بدیلـه لاره کار وکړي، ترڅو دوی ورتـه لـه اندېښـنې پرته د پنبـې صـادرات ولـري. دوی د افغاني صادراتو پر مخ د پاکستاني بندرونو تړل کېدل هغه څه بولي چې له مخې یې دوی ته درانه مالي زیانونه اړوي. د پنبې د سوداګرو پـه خبره پر ازبېکسـتان، ترکیې او ایران سربېـره چین سره هم د واخان له لارې بدیله سوداګرۍ د لګښت او وخت د سپما له مخې ورته ګټوره تمامېږي او هم به یې کرنیـز محصولات تـر اروپایي بازارونو ورسېږي. د پنبې سوداګر خان محمد وایـي: ((موږ د پنبې صادراتو لپاره ... ۷مخ

زابل کې د ۸ ولسوالیو لپاره اداري ودانۍ جوړېږي

د زابل ولایت ځایي چارواکي وایـي، چې د دغـه ولایت د مرکز په ګډون د ۸ ولسـوالیو لپـاره د ۶۰ میلیونـو افغانیو په لګښـت د اداري ودانیو د جوړولو چارې پیل شوې دي. د یـاد ولایت ویانـد مولوي صدیـق اللـه وثیـق باخـتر اطلاعـاتي آژانس ته ویلي چې د دغـه ولایت د ۸ ولسـوالیو لپاره به نوې یو پوړیزې اداري ودانۍ جوړې شي چې هره یوه به یې اتـه اداري خونې ولري او همـداراز د مرکز قلات او دربـوو ولسـوالیو ودانۍ به ترمیم او احاطوي دېوالونه به یې جوړ شي.

ورته مهـال د زابـل والي ملا شـېرمحمد شریف ویلي چې دا مهال د یو شـمېر ولسوالیو د غځېدلـو لارو د جوړېـدو کارونه دوام لـري او د ځینو ولسـوالیو د لارو د جوړېدو کارونه به هم پیل شي.
د یادونـې وړ ده، چـې له دې وړانـدې هم پـه دې ولایت کـې لسـګونه د بیارغونـې پروژې پلې شـوې او د ځینو پروژو کارونه لاهم روان دي، چې په کې د سـیمې زرګونو اوسېدونکو ته کاري فرصتونه هم رامنځته شوي دي.

هلمند کې د کتلوي معافیت ودانۍ ګټې اخیستو ته وسپارل شوه

د هلمنـد پـه مرکز لښـکرګاه کې د یونیسـف په مالي ملاتړ د ۲۴.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د کتلوي معافیـت لپاره نوې دوه پوړیـزه ودانۍ جـوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
په همـدې موخه جوړه شـوې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت مالي او اداري معین مولوي بخت الرحمن شرافت، دهلمندمرستیال والي مولوي محمد نبي حماس، د عامې روغتیا رئیس مولوي فضل احمد شفیع الله، د یو شمېر نورو ادارو مسئولینو او استازو ګډون درلود.په دغو مراسمو کې دعامې روغتیا وزارت مالي او اداري معین مولوي بخـت الرحمن شرافت د یونیسف له مسئولینو مننه کړې او د هلمند د عامې روغتیا رئیس او نورو روغتیایي مسئولینو ته یې سپارښتنه کړې چې د خلکو لپاره غوره روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي. ورته مهال مرسـتیال والي مولوي محمد نبي حماس وویل: د کتلوي معافیـت دا ودانۍ به د واکسین د تطبیق بهیر ته لا زیات اسـانه نظم او موثریت رامنځته کـړي. ده زیاته کـړې: ((موږ هڅه کوو چې له خیریه بنسټونو سره په همکارۍ د خلکو روغتیا ته لا زیاته پاملرنه وکړو تر څو د دغه ولایت اوسېدونکو ته په ښه ډول روغتیایـي خدمات وړاندې شي.)) د یادونـې وړ ده چـې له دې وړاندې هم پـه دغه ولایت کـې ورتـه روغتیایـي پروژې پلې او ګټې اخیسـتنې ته سپارل شوې دي.

بدخشان کې د لوی پامیر سړک د جوړولو چارې پیل شوې

د مـلي دفـاع وزارت د مرسـتیال مـلا عبدالقیوم ذاکر په لاربښـوونه بدخشـان کې د لوی پامیـر لپاره د ۱۲۰ کیلومـتره سـړک د جوړېدو چارې پیل شوې. د ملي دفاع وزارت د فوق العاده لـواء انجنیر نقیب الله د فرقـاني په خـبره، تر اوسـه د دې سـړک ۴ کیلومتره د جغل اچونې او هوارولو کارونه بشـپړ شـوي دي. له ګازخانه پیـل تر پامیر کلینیکه د غځېـدلې دغه ۱۲۰ کیلومـتره اوږده سـړک چارې به په څلورو میاشتو

کې بشـپړې او د پامیر ۳۰۰ قرغیزي کورنیو ته به د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي. فرقاني رسـنیو ته ویلي: د یاد سړک د جوړونې چـارې د ملي دفاع وزارت د کاري ټیم له لوري پیل شـوې دي. ... ۷مخ

لوګر کې د ۲ کورنیو ترمنځ روغه وشوه

د لوګر ځایي مسئولین وایي چې د یاد ولایت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د محتسبینو په هڅو هلتـه د دوو کورنیو ترمنځ شـاوخوا ۱۶ کلنه دښمني پای ته رسول شـوې ده. د لوګر ولایت د مقام په خبرپاڼه کې ویل شوي چې دا دښـمني د یو کس له وژل کېدو وروسته پیل شوې وه او دوه کورنۍ یې سره جلا کړې وې. په خبرپاڼه کې ویل شوي: ((د دښمنۍ له امله دواړو کورنیـو خپلې واده شـوې لونې د خاوند له کورنیو جلا کړې وې، چې اوس د روغې جوړې له لارې دا ښځې بېرته خپلو کورونو ته ستنې شوې او د دواړو کورنیو بېرته دوسـتي ټینګه شوې ده.)) د خبرپاڼې له مخـې، د لوګر د امر بالمعروف ریاست مسـئولینو په تېـرو دوو اوونیو کـې یوازې په مرکز او محمداغې ولسوالۍ کې د ښځو پر وړاندې ... ۷مخ

غور کې د ۴ پراختیایي پروژو چارې پیل شوې

د غور ولایت په مرکز فیروزکوه ښـار کې د څه باندې ۱۹ میلیونو افغانیـو پـه لګښـت د څلورو بنسـټیزو او پراختیایـي پروژو چـارې پیـل شـوې دي.د یادو پروژو د پرانیسـتې مراسـمو پر مهال د غـور والي مولوي حیات الله مبارک د ښـاروالۍ له هڅو مننـه وکـړه او ویـې ویل چې اسـلامي امـارت د پراختیایـي پـروژو پلې کولو تـه ژمن دی. نوموړي زیاته کړه، چې په نږدې راتلونکي کې به د اسلامي امارت له خوا پـه دې ولایت کې نورې سـترې پروژې هم پیل شي. ورته مهال د فیروزکوه ښاروال مولوي امین‌الله شریفي ویلي ... ۷مخ

لغمان کې د چنګاښ میاشتې له پیله تر اوسه ۷۹۰ کډوالې کورنۍ ثبت شوې

د لغـمان چارواکي وایي، چې دغه ولایت ته هـره ورځ له ۳۰ تر ۶۰ او څمکي هم وېشـل کېږي. دوی وایي چې دغو مرستو کې یو شمېر

کورنیو پورې راغلي کډوال د ثبت لپاره مراجعه کـوي، چې دوی ته د اسـلامي امـارت له خـوا پر یو شمېر مرسـتو سربېره نغدي پیسې همـکارې موسسـې هـم فعالیت کوي او دغـو راغلـو کډوالو ته یو لنډمهاله کمپ هم جوړ شـوی دی، چې د ۵۰ کورنیو د مېشـتېدلو ظرفیت لري. د لغمان د والي ویاند عبدالملک نیـازي هېوادورځپاڼې ته وویـل، چې یـوازې د سرطان میاشـتې له پیل راهیسـې تر اوسه پـورې ۷۹۰ کورنـۍ ثبت شـوې دي.نومـوړي وویل، چـې تر دې مهاله له ثبت شویو کورنیو سره د (ډاکار) موسسـې له لوري د اوبو، خـوړو، سرپنـاه او نـورو برخو کې مرسـته شـوې او همدارنګه د لنډمهالـې مېشـتېدنې لپاره د ۵۰ کورنیـو په ظرفیت یـو کمپ هم جـوړ شـوی، چـې پکـې اوبو، سرپناه او نورو اړینو اسانتیاوو ته پام شوی دی.ښـاغلي نیازي زیاته کړه: موږ پلان لـرو چې د دایمي مېشتېدنې لپاره ... ۷مخ

یک مدرسه دینی در پکتیکا ساخته می‌شود

باشـندگان ولسـوالی سرروضه پکتیـکا با پول شـخصی شـان، یک مدرسـه دینی با هزینه یک میلیـون افغانی در این ولسـوالی می‌سازند. مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معـارف پکتیکا، به آژانس باختر گفت: این مدرسـه دینی با هزینه یک میلیون افغانی حمایت مالی مـردم محـل در مربوطات ولسـوالی سرروضـه این ولایت ساخته می شود ... ص۷